د افغانستان اسلامي جمهوریت

# د مالي شخړو د حل کمیسیون

## معلوماتي خپرونه (ګاهنامه)

پیژندنه، واکونه، حقوقي وضعیت او کړنې

(۱۳۸۷-۱۳۹۷)

## د مطالبو لړليک

**سرليکونه** **مخونه**


د مالي شخړو د حل کميسيون د رئيس پيغام.................................................................................

لومړۍ برخه: د مالي شخړو د حل کميسيون پيژندنه......................................................................

د مالي شخړو د حل کميسيون اداري جوړښت..............................................................................

د مالي شخړو د حل کميسيون واکونه.......................................................................................

دويمه برخه: په نړۍ او افغانستان کې قضايي وزمه اداري...............................................................

الف: قضايي وزمه اداره څه ته وايي؟ ........................................................................................

ب: د قضايي وزمه ادارو تعريف...............................................................................................

د قضايي وزمه ادارو ډولونه.....................................................................................................

الف: په نړۍ کې د قضايي وزمه مراجعو قانوني وضعيت..................................................................

ب: د تشکيل او واکونو له پلوه د قضايي وزمه ادارو وېشل...............................................................

په افغانستان کې قضايي وزمه اداره............................................................................................

الف: د اداري سمونونو او ملکي خدمتونو په خپلواکه کميسيون کې د شکايتونو د اوريدو کميسيون.........

ب: د مخابراتي خدمتونو د تنظيم اداري (اترا) د تصميم نيولو بورډ...................................................

د قضايي وزمه ادارو د شتونتيا اغېزې او يا ګټې.............................................................................

دريمه برخه: د مالي شخړو د حل کميسيون کړنې.............................................................................

## د مالي شخړو د حل کمیسیون د رئیس پیغام

د مالي شخړو د حل کمیسیون د یو شبه قضایی ارګان (اداری دیوان) په توګه [1] په افغانستان کی یوه نوي رامنځ ته شوي تجربه ده، نو په همدی اساس د هغه د تاسیس له نیټې څخه را په دې خوا د دې کمیسیون د تعریف، وجودی فلسفې، هدفونو او پر اوسني نظام د هغه د اغیزو په اړه ګڼې پوښتنې راپیدا شوي چه زموږ له نظره دا پوښتنی پرځای دي، ځکه چې د افغانستان په اسلامي جمهوري نظام کې د لومړي ځل لپاره د مالي شخړو د حل کمیسیون په څیر د شبه قضایي ادارو په رامنځ ته کیدو سره د اداري عدالت [2] (Administrative Justice) نظریه تجربه کیږي.

له دې سره سره چې د اداري عدالت په اړوند زیاتې څیړنې شوي دي، خو بیا هم د دې نظریې د پلي کیدو په اړه په ګران هیواد کی عملي ګامونه، نه دي پورته شوي. له دې امله د عامه پوهاوي او د ذهنونو د روښانولو په موخه دا لیکنه چمتو شوي، چې د کمیسیون شالید، اړتیا، پیژندنه، واکونه، هدفونه، کړنې او د هغه لاسته راوړنې پکې مختصرا تربحث لاندی نیول شوی، درنو لوستونکو ته وړاندې کیږي.

په درنښت

**عبدالله دوراني**

**د مالي شخړو د حل کمیسیون رئیس**

---

[1] په واقعیت کې هغو اداري تشکیلاتو ته چې قضایي چارې او فعالیتونه په غاړه لري، د اداري دیوانونو او قضایي ډوله ادارو اصطلاح ګانې کارول کېږي. خو د دې لپاره چې په افغانستان کې دا شان ادارو ته قضایي ډوله اصطلاح کارول کېږي، هڅه شوی ده چې په دې لیکنه کې همدا اصطلاح وکارول شي، مفهوم یې دواړه اصطلاح ګانې رانغاړي.

[2] د اداري عدالت د فلسفې اساسی هدف دا دی: کله چې د دولتي ادارو پریکړی د اشخاصو حقونه اغېزمن کوي، اشخاص کولای شي چې د اداري عدالت د فلسفې پر بنسټ د خپلو حقونو د ترلاسه کولو او واردې شوې خسارې د جبرانولو په موخه مخکې له دې چې قضایي ارګان ته مراجعه وکړي، دعاوی یی د ځانګړو ادارو (اداري دیوانونو) له خوا په قانوني توګه څیړل کیږی. په بل عبارت، اداري عدالت د یوې اداري دیوان له خوا د قضایي اجراآتو پلې کول دي چې د قانون جوړونکی (مقننه) ارګان لخوا ورته صلاحیت ورکړل شوی وی.

## لومړۍ برخه

## د مالي شخړو د حل کمیسیون پیژندنه

### ۱. د مالي شخړو د حل کمیسیون د جوړولو شالید

شپاړس کاله وړاندې کله چې د افغانستان لویې جرګې نوی اساسي قانون تصویب کړ، په دولت کې پر نورو اساسي بدلونونو سربېره، د هېواد مالي او اقتصادي نظام له انحصاري (متمرکزه) اقتصاد څخه د آزاد بازار په اقتصاد بدل شو [3] چې د دولت په نقش او رول کې په بشپړه توګه بدلون رامنځ ته شو. دا په دې معنا چې د نوي اساسي قانون له حکمونو سره سم دولت د امکان تر بریده په بازار کې د خاوند یا شریک رول نه لوبوي، بلکې د عصري او اغېزناکو قوانینو د پلې کولو له لارې د څاروونکي په توګه په بازار کې د خصوصي سکتور لپاره د سالمې سیالۍ زمینه برابروي تر څو معیارونه اوچت شي ، بیې ټیټې شي او کله چې متشبثین له قوانینو او مقرراتو سرغړونه وکړي، مجازات کېږي چې په هغې کې له اصلاحي لارښوونو او سپارښتنو څخه نیولې بیا د جواز تر لغوه کولو پورې، ټول موارد شامل دي.

د دې لپاره چې بازار په رښه، هدفمنده او اغېزناکه توګه د دولت تر څارنې لاندې پاتې شي، د څارونکي په توګه د دولت صلاحیتونه مطلقه نه دي، بلکې د دولت هره هغه پریکړه چې د مستثمرینو/متشبثینو حقونه اغېزمن کوي، کیدلای شي د دریمې مرجع ، هغه محکمه وي که شبه قضایي ارګان،[4] لخوا وځیړل شي. دا چې د افغانستان محاکم د قضایو د زیاتوالی له کبله له سخت فشار لاندې دي او د دې تر څنګ په افغانستان کې پرمختللی سکتوری مسایل او قضایاوی نسبتا یوه نوې پدیده او تخنیکي بڼه لري، نو ځکه د قضایي ډوله ادارو موجودیت ته اړتیا محسوسیده چه په نتیجه کې یې کمیسیون تأسیس شو.

---

[3] **د اساسي قانون لسمه ماده:** دولت، پانګه اچونې او خصوصي تشبثات د بازار اقتصاد سیستم پر بنسټ او د قانون له حکمونو سره سم هڅوي، ملاتړ یې کوي او د هغه خوندیتوب تضمینوي.

[4] **د اساسي قانون یو پنځوسمه ماده:** هر شخص چې له دلیل پرته له اداري څخه زیانمن شي، د خسارې د جبرانولو ور دي او کولای شي چې په محکمه کې دعوا وکړي.

**۲. د مالي شخړو د حل کمیسیون تعریف**

د افغانستان بانک قانون د یو سلو شپږمې مادې له حکم سره سم، د مالي شخړو د حل کمیسیون هغه اداره ده چې په دې قانون او نورو قوانینو کې مندرجې شخړې د روغې جوړې له لارې، قضایي مراجعو ته له راجع کېدو څخه دمخه، حل او فصل کوي.[5]

دا چې پورتنی تعریف زموږ له انده یو هر اړخیز تعریف نه دی، د مطلب د لاروښانتیا په موخه د **اداري دیوان** تر عنوان لاندې یو هر اړخیز تعریف تر بحث لاندې نیسو.

**۳. د مالي شخړو د حل کمیسیون اداري جوړښت**

د مالي شخړو د حل کمیسیون له مسلکي او اداري کارکوونکو څخه جوړ شوی چې د مسلکي کارکوونکو اصطلاح د افغانستان بانک قانون له یو سلو اتمې مادې سره سم په لاندې ډول تعریف کېږي:

۱. د افغانستان بانک د رئیس په وړاندیز او د ولسمشر په منظورۍ درې تنه حقوق پوهان؛

۲. د مالیې وزیر په وړاندیز او د ولسمشر په منظورۍ سره درې تنه مسلکي، تکړه او تجربه لرونکي حسابداران؛ د کمیسیون رئیس د افغانستان بانک د رئیس په وړاندیز او د ولسمشر په منظورۍ د حقوق پوهانو له غړو څخه ټاکل کیږي او اداري کارکوونکي له اړتیا سره سم ټاکل کیږي.

د رئیس په ګډون د کمیسیون مسلکي غړي چې په ټولیزه توګه شپږ تنو ته رسیږي، باید له لاندنیو شرایطو سره برابر وي:

۱. د افغانستان تابعیت ولري

۲. د ښه شهرت خاوند وي او په امانت کې د خیانت پر جرم محکوم نه وي؛

۳. د سیاسي او مدني حقونو پر سرغړولو محکوم نه وي؛

۴. د دندې پرمهال بله رسمي دنده ونه لري؛

۵. په بل بانک کې د عالي شورا او د عامل پلاوي غړیتوب ونلري او یا یې په د افغانستان بانک کې د څارونکي یا کارکوونکي په توګه دنده ترسره کړې نه وي

۶. د ګمارنې په وخت د کمیسیون د مسلکي غړو عمر له ۳۵ کلونو څخه کم نه وي.

[5] **د افغانستان بانک قانون یو سلو شپږمه ماده:** په دې قانون کې د مندرجو مالي شخړو د حل په موخه په د افغانستان بانک کې کمیسیون جوړیږي چې له قضایي مراجعو څخه مخکې شخړې او لانجې په روغې جوړې سره حلوي.

د افغانستان بانک قانون د یو سلو اتمې مادې د ۳ فقرې له حکم سره سم، د کمیسیون مسلکي غړي له ګمارنې وروسته له دندې ګوښه کېدای نه شي، خو دا چې له پورتنیو شپږو شرایطو څخه یو له لاسه ورکړي یا دا چې استعفا ورکړي یا مړ شي او یا د با صلاحیته محکمې لخوا پر سرغړونې یا دندې ګوښه کېدنې باندې محکوم شي.

مسلکي غړي د دې مادې د ۴ فقرې له حکم سره سم، د ۷۰ کلنی عمر له بشپړیدو سره تقاعد کیږي، له دې مخکې کولای شي چې د لیکلي غوښتنلیک په وړاندې کولو سره د شخصي ستونزو له امله له دندې استعفا ورکړي. د مسلکي غړو د معاش اندازه، د تقاعد حقوق او نور مالي امتیازات د افغانستان بانک په وړاندیز او د وزیرانو شورا په تصویب ټاکل کیږي.




**الف- د شتمنیو ثبتول او د شخړو په حل او فصل کې ګډون نه کول**

د افغانستان بانک قانون د یو سلو نهمې مادې د حکم پر بنسټ، د دې کمیسیون مسلکي غړی اړ دی چې د ګومارنې په وخت کې خپلې شتمنی د شتمنیو د ثبت په فورمه کې درج کړي او د هر کال په پای کې د شتمنیو د ثبت فورمه د هغه پلاوي له خوا کتل کیږي چې د افغانستان بانک، مالیې وزیر او وزیرانو شورا له خوا ټاکل کیږي، د وزیرانو شورا استازی د کتنې پلاوي رئیس دی.

که چیرې د کمیسیون کوم مسلکي غړی چې د حل او فصل لپاره ورته قضیه راجع شوې وي، ګډون یی د ګټو تضاد رامنځته کوی ، د قضیې د کتنې پلاوي په غونډو کې له ګډون څخه په لیکلی بڼه بخښنه غواړي او په دې برخه کې له کتنې او غور څخه ډډه کوي. په داسې حالت کې قضیه د نورو غړو له خوا

حل او فصل کیږی ، که داسې نه وي، نو د کمیسیون فیصله باطلیږي. د یادونې وړ ده چې د قانون له حکم سره سم د مسلکي غړو یا د اداري کارکوونکو له جملې څخه هیڅوك نه شي کولای چې د شخړې له یوې خوا څخه په خپل نوم یا تر څلورمې درجې پورې د خپلو خپلوانو په نوم یا مالي شرکت په نوم کومه ډالی یا پور واخلي.

**ب: د دندې د محرمیت ساتل**

د کمیسیون مسلکي غړي اړ دي چې د دندې د رازونو یا د هغو معلوماتو په اړه چې د نورو وګړو په اړه ورسره وي، افشاګري ونه کړي، خو دا چې د قانون د حکم یا د باصلاحیت محکمې له امر سره سم ترسره شي، د دې ترڅنګ له پورتنیو معلوماتو څخه د ځان او نورو وګړو په ګټه کار نه اخیستل، د کمیسیون د مسلکي غړو مکلفیت دی.

**۴. د مالي شخړو د حل کمیسیون کړنلاره**

د مالي شخړو د حل کمیسیون ځانګړي کړنلاره او د دندو لایحې لري، ځکه چې د قانون د حکم له مخې کمیسیون تر جوړېدو وروسته مکلفیت لري چې خپله کړنلاره جوړه او د تصویب لپاره یې د افغانستان بانک عالي شورا ته واستوي[6]. د یادونی وړ ده چه د کمیسیون کړنلاره د طرحې له لومړي پړاو وروسته د دویم ځل لپاره د بیا کتنی له مرحلی څخه تیره شوی او د هغه لامل هم د بانکدارۍ قانون په ځینو موادو کې تعدیل او په نورو قوانینو کې د کمیسیون د صلاحیتونو زیاتول ښودل شوي، چې په دې حالت کې اړینه وه چې د کمیسیون په صلاحیتونو کې د بدلونونو په راوستلو، کړنلاره هم د بانکدارۍ قانون له حکمونو سره همغږه شي. پټه دې نه وي چې یوازې تعدیل شوي موارد تر بیا کتنې او اصلاح لاندې نیول شوي او په پای کې لومړۍ کړنلاره د ملپاڼې په بڼه راوړل شوې او د کمیسیون کړنلارې[7] مطابق د کمیسیون تصمیمونه د افغانستان بانك د قانون ، بانکدارۍ قانون او له نورو نافذه قوانینو سره سم چې د قضیې اړوندې وي، مطابق نیول کیږی.

---

[6] **د افغانستان بانک قانون یو سلو یوولسمه ماده:**

کمیسیون اړ دی چې تر جوړېدو وروسته په یوه میاشت کې خپلې کړنلارې او د دندې لایحې جوړې کړي او د تصویب لپاره یې د افغانستان بانك عالي شورا ته واستوي.

[7] د مالي شخړو د حل کمیسیون د کړنلارې په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره کولای شئ دې وب سایټ ته مراجعه وکړئ: www.fdrc.gov.af

**۵. د قضايي ډوله اداري په توګه د مالي شخړو د حل کميسيون واکونه**

۱) کميسيون کولای شي چې د افغانستان بانک لاندنی پريکړې او حکمونه تر بيا کتنې لاندې ونيسي:[8]

۱. هغه پريکړه چه د بانکي جواز، بانکي اجازه ليک يا د غوښتنليک ورکوونکي د ثبت د ردولو په اړه کيږي؛

۲. هغه پريکړه چه د بانکي جواز، پر بانکي اجازه ليک يا ثبت باندې د محدوديتونو د وضع کولو په اړه کيږي؛

۳. هغه پريکړه چه د بانکي جواز يا د بانکي اجازه ليک د لغو کولو په اړه کيږي؛

۴. هغه پريکړه چه د خسارې د جبران يا مالي مجازاتو په اړه کيږي؛

۵. د هغه شخص په وړاندې د حکمونو صادرول چې د جواز يا بانکي اجازه ليک يا د افغانستان بانک سره له ثبت پرته فعاليت کوي، د قانون له حکمونو سره سم د جواز يا اجازه ليک يا ثبت په ترلاسه کولو لپاره مکلف وی؛

۶. نور هغه موارد چې د قانون له حکمونو سره سم کميسيون ته سپارل کيږي؛

(۲) کميسيون کولای شي چې د مالي ادارو ترمنځ مالي شخړې تر کتنې لاندې ونيسي او حل يې کړي، په دې شرط چې له مخکيني هوکړې سره سم د شخړو حلول په ښکاره ډول هغې ته سپارل شوې وي.

---

[8] **د افغانستان بانک قانون يو سلو اوومه ماده**

(۱) کميسيون کولای شي د افغانستان بانک لاندنی پريکړې او حکمونه تر کتنې لاندې ونيسي.

۱. هغه پريکړه چې د بانکي جواز، بانکي اجازه ليک يا د غوښتنليک ورکوونکي د ثبت د ردولو په اړه کيږي؛

۲. هغه پريکړه چې پر بانکي جواز، د بانکي اجازه ليک يا ثبت باندې د محدوديتونو د وضع کولو په اړه کيږي؛

۳. هغه پريکړه چې د بانکي جواز يا د بانکي اجازه ليک د لغو کولو په اړه ترسره کيږي؛

۴. هغه پريکړه چې د خسارې د جبران يا مالي مجازاتو په اړه کيږي؛

۵. د هغه شخص په وړاندې د حکمونو صادرول چې د جواز يا بانکي اجازه ليک يا د افغانستان بانک سره له ثبت پرته فعاليت کوي چې د قانون له حکمونو سره سم د جواز يا اجازه ليک يا ثبت په ترلاسه کولو لپاره مکلف دی؛

۶. هغه پريکړه چې د متولي د ګمارنې او د کاري دورې د تمديدولو په اړه کيږي؛

۷. نور موارد چې د قانون له حکمونو سره سم کميسيون ته سپارل کيږي.

(۲) کميسيون کولای شي چې هغه غوښتنې تر کتنې لاندې ونيسي او ترې څارنه وکړي چې د بانک پرانيستنې يا د بانک په وړاندې د ديوالي کيدو لپاره وړاندې کيږي. د افغانستان بانک قانون د مادې دا برخه د بانکدارۍ قانون د (۱۱۹۷) پرله پسې ګڼې چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت ولسمشر د ۲۶/۵/۱۳۹۴ نيټې د (۵۶) ګڼې فرمان له لارې توشيح او نافذ شوی، لغو ګڼل کيږي.

(۲) کمېسيون کولای شي د مالي ادارو ترمنځ هغه مالي شخړې حل کړي چې د مخکينی هوکړې پر بنسټ دې کمېسيون ته د شخړې د حل په موخه صريحاً استول شوي وي.

(۳) همدا ډول، کمېسیون کولای شي د افغانستان د بانکدارۍ د قانون د پنځمې مادې د (۲) او (۳) فقرو او شپږمې مادې د (۴) فقرې له حکم سره سم، د افغانستان بانک دستورونه تر څارنې لاندې ونیسي او یا یې لغوه، تجدید او ځنډوي.[9]

(۴) په همدې ترتیب کمېسیون مکلف دی چې د بانکدارۍ د قانون د اوومې مادې د (۳) فقرې د درج شویو موارد و د مدني خسارې د جبران ادعاء ته رسیدنه وکړي.[10]

(۵) کمېسیون د بانکدارې د قانون د پنځه ویشتمې مادې د (۵) فقرې د حکم له مخې، د دې مادې د (۴) فقرې په مندرج حالت کې د افغانستان بانک د غوښتنې له امله، د شرایطو وړ شخص له ورته واکونو سره چې ځېنډول شوی شخص یې لري، ټاکي.

(۶) کمېسیون د بانکدارۍ قانون د څلور څلوېښتمې مادې د (۴) فقرې له مخې، د افغانستان بانک د پریکړې پر وړاندې د بهرني بانک د نمایندګۍ نیوکې(اعتراض) ته رسیدنه کوي.[11]

(۷) همدا ډول کمېسیون کولای شي چې د افغانستان د بانکدارۍ قانون د څلور اویایمې مادې د (۴) فقرې د حکم پربنسټ، د داخلي بانکونو او داخلي مشتریانو ترمنځ شخړې او د داخلي نمایندګیو (د نا مېشت بانک) د کړنو پر ضد(علیه) د داخلي مشتریانو دعوې حل او فصل کړي.[12]

---

[9] **د بانکدارۍ قانون د پنځمې مادې (۲) او (۳) فقره:**

(۲) شخص یا شرکت د مادې د (۱) فقرې د درج شوي دستور د مخاطب د کنټرول لاندې کولای شي د (۱۰) کاري ورځو په اوږدو کې د مالي شخړو د حل کمېسیون ته چې په قانون کې د کمېسیون په نوم یادیږي، د بیا کتنې غوښتنلیک وړاندې کړي. د غوښتنلیک وړاندې کول د یاد دستور د تطبیقیدو ځنډ نه ګرځي.

(۳) کمېسیون کولای شي د لاندې حالاتو څخه د یو د تثبیت په صورت کې، د افغانستان بانک صادر شوی دستور لغوه، تجدید او یا وځنډوي.

**د بانکدارۍ قانون د شپږمې مادې (۴) فقره:**

(۴) کله چې د دې مادې د (۳) فقرې درج شوې نیوکه د افغانستان بانک لخوا رد شي، اړوند شخص کولای شي چې د خبرتیا د صادریدو له نېټې څخه د (۱۰) کاري ورځو په اوږدو کې خپل غوښتنلیک کمېسیون ته وسپاري.

[10] **د بانکدارۍ قانون د اومې مادې (۳) فقره:**

(۳)کمېسیون اړه دی چې د مدني خسارې د جبران ادعا ته په لاندې موارد و کې رسیدنه وکړي:

۱- که چیرې د افغانستان بانک او یا د دې مادې د (۱) فقرې له درج شویو اشخاصو څخه د یو پر وړاندې د خسارې د جبران ادعا اقامه شوي وي.

۲- که چیرې د خسارې د جبران ادعا د افغانستان بانک او یا په دې قانون یا د افغانستان بانک په قانون کې له درج شویو اشخاصو څخه یو د دندې د ترسره یکدو په اږدو کې د اقدام یا نه اقدام او یا په اقدام کې د ځنډ له امله اقامه شوي وي.

[11] **د بانکدارۍ قانون د څلور څلوېښتمې مادې (۴) فقره:**

(۴) د افغانستان بانک اړه دی څو د نمایندګۍ د اجازه لیک له فسخې کولو څخه لږ تر لږه (۱۵) ورځې مخکې د دې قانون د دري دېرشمې مادې په (۴) فقرې کې له درج شویو حکمونو سره سم، په لیکلي توګه بهرني بانک ته خبر وکړي. د بهرني بانک نمایندګۍ کولای شي چې د افغانستان بانک د پریکړې د نه منلو په صورت کې خپل غوښتنلیک یا اعتراض د اړوندې مقررې د درج شویو حکمونو پر بنسټ کمېسیون ته وسپاري.

[12] **د افغانستان د بانکدارۍ قانون د څلور اویایمې مادې (۴) فقره:**

(۵) د داخلي بانکونو او داخلي مشتریانو ترمنځ شخړې او د داخلي نمایندګیو د کړنو په تړاو د نامیشتو بانکونو پر وړاندې د داخلي مشتریانو ټولې دعوې د دې کمیسیون لخوا حلیږي، او د اړخونو د نه قناعت په صورت کې یادې شخړې د افغانستان په محکمې کې حل کیږي.

(۸) کله چې د یو دیوالي شوي بانک د تصفیې مدیر د بانکدارۍ قانون د یو سلو نهه څلویښتمې مادې د درج شوې معاملې د باطلیدو په اړه د همدې مادې په (۴) فقره کې درج شوي دستورونه صادروي، زیانمن/ متضرر شخص کولای شي چې د دستور له ترلاسه کولو وروسته د (۱۰) کاري ورځو په اوږدو کې له کمېسیون څخه د بیا کتنې غوښتنه وکړي.

(۹) په یو سلو نهه څلویښتمه ماده کې[13] د درج شویو معاملو د باطلیدو د اعلان پربنسټ او د دې مادې د (۱) فقرې د درج شوي حکم پر بنسټ د تصفیې مدیر د پریکړې له امله رامنځته شوې شخړې د کمېسیون لخوا حل او فصل کیږي.

(۱۰) کــه چیــرې د بانــک د تصــفیې مــدیر د منلــو او توجیــه وړ دلیلونــو پــه شــتونتیا کــې د ناتضــمین شــویو امــانتونو یــا د پــانګې اچــونې حســابونو لــه املــه پــر بانــک بانــدې د پورونــو د یــوې برخــې یــا ټولــو د ځنــډولو امــر صــادر کــړي، پــه دې حالــت کــې د بانکــدارۍ قــانون د یــو ســلو پنځــه پنځوســمې مــادې د (۵) فقــرې لــه حکــم ســره ســم، زیــانمن شــوی شــخص کــولای شــي چــې پــه لســو ورځــو کــې کمیســیون تــه د ورکړل شوي دستور د بیاکتنې لپاره غوښتنلیک ورکړي.

(۱۱) همدا ډول، د بانکدارۍ قانون د یو سلو پنځه پنځوسمې مادې د درج شوي حکم پر بسنټ، د ځنډول شوي دستور د صادرولو له امله د امانت ایښودونکي او د تصفیې مدیر ترمنځ رامنځ ته شوي شخړې د کمیسیون لخوا حلیږي.

(۱۲) د بانکدارۍ قانون د یو سلو شپږ پنځوسمې مادې د (۱) فقرې د حکم پر بنسټ، پوروړی (دائن) اړ دی چې له بانک سره د تصفیې لاندې خپل طلب د تصفیې مدیر د ګمارنې پر بنسټ د تصمیم له خپریدو وروسته په (۶۰) ورځو کې له تصفیې مدیر سره ثبت کړي؛ که چیرې پوروړی (دائن) د تصفیې مدیر پر پریکړې باندې نیوکه (اعتراض) ولري، کولای شي چې د پریکړې له صادریدو وروسته د (۳۰) کاري ورځو په اوږدو کې د بیا کتنې لپاره خپله د نیوکې پاڼه (اعتراض لیک) کمیسیون ته وسپاري[14].

---

[13] **د بانکدارۍ قانون د یو سلو نهه څلویښتمې مادې (۶) او (۷) فقرې:**

(۶) د لنډ مهاله دستور مندرج شخص کولای شي چې د دستور له ترلاسه کولو وروسته په (۱۰) ورځو کې له کمېسیون څخه د بیا کتنې غوښتنه وکړي د دې بیا کتنې په برخه کې د دې قانون د یو سلو پنځلسمې مادې مندرج حکم هم د پلي کیدو وړ دی.

(۷) د دې مادې د (۱) فقرې د مندرج حکم له مخې د معاملې د لغو کېدو په تړاو د تصفیې مدیر د پریکړې پر سر رامنځ ته شوې شخړې هم د کمېسیون لخوا حلیږي.

[14] **د بانکدارۍ د قانون یو سلو شپږ پنځوسمه ماده:**

(۱) پوروړی (دائن) اړ دی چې له بانک سره د تصفیې لاندې طلب د تصفیې مدیر د ګمارنې په اړه د پریکړې له نیټې څخه وروسته په شپېتو (۶۰) ورځو کې د تصفیې له مدیر سره ثبت کړي.

د افغانستان بانک کولای شي چې دا موده د (۳۰) ورځو لپاره تمدید کړي. د پوروړي (دائن) د غوښتنې په صورت کې، د هغه لپاره د ثبت رسید ورکول کیږي.

د دې قانون د یو سلو اووه پنځوسمې مادې د (۱) او (۲) فقرو مندرج حکمونه له دې حکم څخه بیل (مستثنی) ګڼل کیږي.

(۲) طلب د هغه د مثبته اسنادو او لاندنیو معلوماتو له مخې ثبتیږي:

۱. د پوروړي (دائن) نوم او پته

۲. ټکټانه او نور مبلغونه، جریمه او د طلب اصل مبلغ پورې تړلي طلبات.

(۱۳) د بانکدارۍ قانون د یو سلو یو شپیتمې مادې د (۴) فقرې د درج شوې شتمنۍ د ارزښت په اړه د تصفیې د مدیر او پوروړي (دائن) ترمنځ شخړه د کمیسیون لخوا حل او فصل کیږي.[15]

(۱۴) د مخابراتي خدمتونو د تنظیم قانون د لسمې مادې د (۳) فقرې له حکم سره سم، څوک چې د اترا ادارې له پریکړې څخه زیانمن کیږي، کولای شي چې له پریکړې څخه وروسته د دیرشو ورځو په اوږدو کې کمیسیون ته مراجعه وکړي[16].

---

۳. د رهن، د مال د ضبطولو حق یا د نوم او ضامن د پتې په یادونې سره د یاد طلب اړوند نورو ضمانتونو په اړه تفصیلي معلومات.
(۳) د بانک د تصفیې مدیر په ګمارلو سره د حسابونو طلب او ثبت شوي امانتونه د متولي بانک په دفترونو یا په اسنادو کې واقع کیږي. نور طلبات د هغه د ثبت کېدو وروسته د تصفیې له مدیر سره ساتل کیږي.

**د بانکدارۍ قانون د یو سلو اوومې مادې (۷) – (۱۳) فقرې:**

(۷) کمیسیون اړ دی چې د دې مادې (۶) فقرې د مندرج اعتراض ته د رسېدو نېټه داسې جوړه کړي چې اعتراض کوونکي پوروړی (دائن) وکړای شي چې د خپل طلب د ثبتولو لپاره د تصفیې مدیر او کمیسیون ته اسناد او شواهد وړاندې کړي، په دې شرط چې کمیسیون ته د اعتراض وړ طلباتو د لړلیک د سپارلو نېټو څخه شپیته (۶۰) ورځې وروسته دغه قضیې تر غور او کتنې لاندې ونیول شي.
(۸) د تصفیې مدیر اړ دی چې یوازې یو ځل د الکترونیکي پُست یا د خبرتیا د خپرولو له لارې پوروړی (دائن) د دې موضوع په اړه خبر کړي.
(۹) که چېرې پوروړی (دائن) د پُست له لارې تر خبرېدو وروسته کمیسیون ته د طلباتو د هوارۍ لپاره حاضر نشي، د هغوی طلبات رد شوي ګڼل کیږي.
(۱۰) کمیسیون اړ دی چې د بیاکتنې رد شوي غوښتنلیکونو په اړه په لیکلي بڼه پوروړي (دائن) ته خبر ورکړي او د هغه یوه کاپي د تصفیې مدیر ته ولیږي.
(۱۱) د دې مادې د (۶) فقرې د مندرج اعتراض په اړه د کمیسیون پریکړه نهایي ګڼل کیږي او د تصفیې مدیر ته خبر ورکول او د تصفیې مدیر په لړلیک کې ثبتول کیږي.
(۱۲) که چېرې د پوروړي (دائن) د بیاکتنې غوښتنلیک د کمیسیون لخوا ومنل شي، د دې موضوع په اړه په لیکلي بڼه دائن ته خبر ورکول کیږي او یوه کاپي یې د تصفیې مدیر ته لیږل کیږي.
(۱۳) د تصفیې مدیر کولای نشي چې د هغو طلباتو د غوښتنې په بدل کې اداینه وکړي چې د کمیسیون لخوا ردیږي.
هغه پوروړي (دائنین) چې غوښتنلیک یې د کمیسیون په پریکړې سره ردیږي، کولای نشي چې د خبرتیا د ترلاسه کولو څخه وروسته تر پنځلسو (۱۵) ورځو پورې د استیناف غوښتنه وکړي.

[15] **د بانکدارۍ قانون یو سلو یو شپیتمه ماده:**

(۱) د تصفیې مدیر اړ دی چې هغه شتمنۍ چې د بانک په وړاندې د پوروړي (دائن) منظور شوي طلبات یا د نورو په وړاندې د بانک طلبات تضمین کوي، د عمومي لیلام (مزایدې) له لارې خرڅ کړي. لاندنۍ ټکي د دې حکم څخه معاف او جلا ګڼل کیږي:
۱. د بیه لرونکو پاڼو، اسعارو او نورو شتمنیو پلور چې په بازار کې په اسانۍ سره د پلور وړ دي، د دې اسنادو په ځانګړو بازارونو کې.
۲. د بیه لرونکو پاڼو او د بانک د نورو شتمنیو پلور چې د هغه پوراینې تضمینوي او په اسانۍ سره په بازار کې د پلور وړ دي، د هغه پوروړي (دائن) لخوا چې دغه شتمنۍ په واک کې لري.
(۲) که چېرې د تصفیې مدیر دا پیدا کړي چې په عمومي لیلام کې د دې مادې د (۱) فقرې د مندرجې شتمنۍ لپاره مناسبه بیه نه ترلاسه کیږي، کولای شي چې دا شتمنۍ په خصوصي توګه پر ټاکلې مناسبې بیې باندې وپلوري.
(۳) د دې مادې د (۱) فقرې د (۲) جز د مندرجو شتمنیو پرته د تصفیې لاندې د بانک ټولې شتمنۍ د تصفیې مدیر د غوښتنې سره سم د هغه په واک کې کېښنودل کیږي.
(۴) د شتمنۍ د ارزښت په اړه چې له لارې یې یو طلب تضمین کیږي، د تصفیې مدیر او پوروړي (دائن) ترمنځ شخړه او لانجه د مالي شخړو د حلولو کمیسیون لخوا حلیږي. که چېرې دا شتمنۍ په بازار کې یا د عمومي لیلام یا مزایدې له لارې پلورل شوې وي، د پلور کومه بیه چې په لیلام یا بازار کې ترلاسه کیږي، د شتمنۍ د ارزښت په اړه نهایي ګڼل کیږي.

[16] **د مخابراتي خدمتونو د تنظیم قانون د لسمې مادې دریمه فقره:**

کوم شخص چې د اترا ادارې پریکړې سره اغېزمنه کیږي، حق لري چې د دې قانون د مندرجه نغدي جریمې پرته د نورو مالي موضوعاتو په اړه د تصمیم وروسته په دیرشو ورځو کې د مالي شخړو د حلولو کمیسیون ته مراجعه وکړي او د رسیدنې غوښتنه وکړي.

(۱۵) د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوی قانون د څلور ویشتمې مادې د (۵) فقرې د حکم له مخې، د افغانستان بانک د دستور د نه منلو په صورت کې راپور ورکوونکې اړخ (خوا) کولای شي چې د بیاکتنې لپاره خپل اعتراض لیک د دیرشو ورځو په اوږدو کې کمیسیون ته ولیږي.[17]

(۱۲) د مالي شخړو د حلولو کمیسیون کولای شي چې د دریمې مادې د پنځه ویشتمې برخې (جز) له حکم سره سم، د معاملې وړ سندونو لپاره باصلاحیته مامور توظیف کړي.[18]




[17] د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوی د قانون د څلور ویشتمې مادې پنځمه فقره:
راپور ورکوونکې خوا کولای شي چې د افغانستان بانک یا د بلې باصلاحیته څارنیزې ادارې د صادر شوي دستور د نه منلو په صورت کې د دستور د ترلاسه کولو وروسته په (۳۰) ورځو کې دننه خپل اعتراض لیک کمیسیون ته وسپاري.

[18] د معاملې وړ سندونو د قانون د دریمې مادې پنځه دیرشمه برخه:
**واک لرونکی مامور:** هغه شخص ته وايي چې د افغانستان بانک د مالي شخړو د حلولو کمیسیون لخوا د امضا د تائیدولو، د سند تصدیقولو او د دې قانون د نورو مندرجو دندو لپاره توظیف کیږي.

## دویمه برخه

## په نړۍ او افغانستان کې قضايي ډوله اداري

څرنګه چې مخکې يادونه وشوه په افغانستان کې، د قضايي ډوله اداري په توګه د مالي شخړو د حل کميسيون يوه نوې پديده ده، له همدې کبله، بهتره به وي چې د قضايي ډوله ادارو او د نړۍ په حقوقي نظامونو کې د هغو د جوړښت او څرنګوالي په اړه تعريف او لنډ معلومات وړاندې شي.

**الف: قضايي ډوله اداري څه ته وايي؟**

له اصولي پلوه، نوي ټولنيزې او حقوقي اړيکې د دې لامل شوې چې دولتونه پر معمولي او دوديزو قضايي چارو کې خپلې مداخلې زياتې کړي، نو په همدی اساس پر قضايي برخو سربيره د بشري ژوندانه په اړيکو کې ټولنيزو چارو ته پاملرنه ډيره شوه چه په نتيجه کی يی نوي بڼو شتون پيداکړ ، هغه دا چه ځينې بنسټونه په اجرائيه قوې کې رامنځته شول چې شخړو ته رسېدګی وکړی او رايه يې صادره کړی. دا ډول مراجع څو بيلګې لري، لکه د مالياتي شخړو د حل ارګانونه، د کارګر او ګومارونکي ترمنځ د شخړو حل مراجع او د څارونکي او څارل کېدونکي ادارو ترمنځ شخړې يادولای شو.

له همدې کبله، د ځينو قضايي ډوله حقوق پوهانو په وينا، داسې مراجع هم شته چې له ځانګړو قوانينو سره سم او له قضائيه قوې څخه بهر زياتره له دولتي ادارو يا تخصصي سازمانونو سره تړلي باصلاحيته استينافي ادارو په توګه جوړيږي او د عمومی او خصوصي اشخاصو ، دولتي او تخصصي ادارو ترمنځ د ګومارنې، مالي، مالياتي، ځمکنې او څارنيزو دعواوو په شان نور شکايتونه او شخړې هواروي چې زياتره د هغو ځانګړو قوانينو په چوکاټ کې اجرا کېږي چې د ټولنيز او اقتصادي پراختيا او د وګړو د اړتياوو د پوره کولو لپاره کار کوي. خلاصه دا، بايد وويل شي چې د هغوی حکم قضايي اړخ نه لري او اداري پريکړه ګڼل کيږي، خو که چيرې د هغوی په وړاندې په ټاکلي وخت کی د استيناف غوښتنه ونشي، نو ياده پريکړه ځانته د قضايي قرار حيثيت ترلاسه کوي.

د يادونی وړ ده چې د افغانستان د اساسي قانون ۱۲۲) مادې له مخې، په ټوليزه توګه دعواګانو ته د رسېدو صلاحيت د قضاييه قوې پر غاړه دی[19]، د دې ترڅنګ دعوا ته د رسېدنې او د محکمو

[19] د افغانستان د اسلامي جمهوري اساسي قانون يو سل او دوه ويشتمه ماده:

ترمنځ د دعواوو د ډول او څرنګوالي د ویشلو امر د عادي قوانینو له خوا ترسره کېږي، څو د هغه د موقعیت او کاري التزاماتو په پام کې نیولو سره وربانديې عمل وشي. خو دا په دې معنا نه ده چې په افغانستان کې نور ارګانونه دعواوې نه شي حل کولای یا دا چې که حل یې کړي، نو قانوني بڼه نه لري، بلکې اصلي خبره دا ده چې محکمې دعواګانې څېړي خو د هغې مخکې نورې اداري شته دي چې د قضایي ډوله ادارو په نوم یادیږي او کولای شي چې د قضایي حل څخه مخکې په ځانګړي توګه سکتوري او تخصصي شخړې حل کړي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره ښه به دا وي چې له قضایي ارګانونو سره د دا شان ادارو توپیر تر بحث لاندې ونیول شي چې په لاندی ټکو کی یی په لنډ ډول رانغاړو:

۱. د قضائیه قوې برخه نه وي او د دې ارګانونو تصدي د قاضیانو له خوا نه وي؛

۲. زیاتره وخت دا ارګانونه د اجرائیه قوې د ټولګې (صنف) تر اغېزې لاندې کار کوي، نه د قضائیه قوې په ساحه کې؛

۳. زیاتره مواردو کې د هغه نوم له قضائیه قوې سره ورته والی نه لري، بلکې د کمیسیون، پلاوي، د شخړو د حل ادارې، بورډ، کمیټې او داسې نورو نومونو باندې جوړې شوې دي؛

۴. د ځانګړي قوانینو پر بنسټ، د خاصو قوانینو د اجرا له امله رامنځ ته شوي شخړې حلوي، نه ټولې او عمومي شخړې؛

۵. په دې ارګانونو کې د موضوعاتو څرنګوالی او مطرح شوي مسایل ځانته ځانګړنې لري چې د هغه پر بنسټ یو شمېر موارد تر کتنې لاندې نیسي چې سیمه ییزه یا ټولګه ییزه (صنفي) یا اختصاصي اړخ ولري چې د تصمیم نیولو په پروسه کی د چټکتیا متقاضی وی ؛ خو د هغه تصمیم اداري بڼه لري، نه قضایي.

**ب: د قضایي ډوله ادارو تعریف:**

قضایي ډوله اداري په نړۍ کې یوه نسبتاً نوې موضوع ده چې لا هم د پرمختګ او پراختیا په پړاو کې قرار لري. په حقیقت کې، په بیلابیلو هېوادونو کې دغه دیوانونه د نظام د قانوني جوړښت سره سم ترسیم او ترتیب شوي او د صلاحیتونو د حدودو له پلوه بیلابیلې بڼې او ډولونه لري چې له همدی

---

هیڅ قانون کولای نشي چې په هیڅ حالت کې کومه قضیه یا ساحه د قضائیه قوې د صلاحیت له کرښې څخه په داسې بڼه راوباسي چې په دې څېرکی کې بیان شوی، او بل مقام ته یې وسپاري.

کبله د بورډ، کمیټې، کمیسیون، دیوان او په ځینو ځایونو کې د اداري محکمو په نوم یادیږي. په همدی اساس دا ممکنه نه ښکاری چې د دې ډول ادارو لپاره یو هر اړخیزه او پراخه تعریف وړاندې شي او همدا دلیل دی چې د افغانستان بانک قانون[20] په یو سلو شپږمې مادې کې د کمیسیون په اړه وړاندې شوی تعریف زموږ له انده یو هر اړخیز او پراخه تعریف نه دی. ځکه چې یو هر اړخیزه تعریف هغه ته وایي چې ټولې اړوندې خواوې راونغاړي او ټولې نا اړوندې خواوې ترې وایستل شي. پورتني تعریف ته په کتو سره داسی څرګندیږي چې قانون جوړوونکو د کمیسیون صلاحیتونه په لنډه توګه بیان کړي دي، نه دا چې دا یې تعریف کړی وي او نه په نورو نافذه قوانینو کې داسې څه تر نظر نه راځي چې اداري ارګانونه یې په ښه توګه تعریف کړي وي. د دې ترڅنګ، د نړۍ په نورو حقوقي نظامونو کې هم د اداري دیوانونو لپاره یو واحده تعریف نشته، دلیل یی، لکه څرنګه چه مخکی ورته اشاره وشوه، کېدای شي دا وي چې دا دیوانونه د دولتونو له قانوني جوړښت سره سم په پام کې نیول شوي وی او د تشکیلاتي، حقوقی او صلاحیتونو د لرلو له پلوه په بیلابیلو بڼو او ډولونو رامنځته شوی وی. نو د دې لپاره چې دا پدیده په ښه توګه بیان کړو او د کمیسیون ځانګړنې هم په پام کې ونیسو، څموږ له نظره کیدلای شی لاندنی تعریف دا ټول مقتضیات په احسنه توګه پوره کړی:

*قضايي ډوله اداره هغې اداري ته وايي چې د قانون له حکم سره سم د قضائیه قوې له تشکیلاتي کاري چوکاټ څخه بهر جوړه شوی وي او د حکومتي ارګانونو او حقیقي او حکمي وګړو ترمنځ رامنځ ته شوي شخړې او نورې هغه شخړې چې د قانون له حکم سره سم دغو ادارو ته راجع کیږي، له قضايي حل او فصل څخه مخکې هوارې کړي او په خپلو کړنو کې خپلواکه وی*[21].

زموږ له انده دا تعریف د دې لپاره چې د یو قضايي ډوله اداري زیاتره ځانګړنې، چه لاندی به ذکر شی، رانغاړي، یو پراخه او هر اړخیز تعریف دی:

---

[20] **د افغانستان بانک قانون یو سلو شپږمه ماده:** په دې قانون کې د مندرجه مالي شخړو د حل په موخه د افغانستان بانک کې یو کمیسیون جوړیږي چې د قضايي حل څخه مخکې مالي قضیې او شخړې په سوله ایزه توګه او د روغې جوړې له لارې حلوي.

[21] "Bodies outside the hierarchy of the courts with administrative and judicial functions"; (Curzon, dictionary of law, 194, p378)

"An administrative agency exercising a judicial function": (Black Law Dictionary, Page49, Eighth edition)

۱. قضـــايي ډولـــه: د دې لپـــاره چـــې دا ديوانونـــه قضـــايي کړنـــې چـــې د شـــخړو حلـــول دی، پـــرمخ وړي.

۲. په زياترو مواردو کې د شخړې يو طرف دولت وي.

۳. د اجرائيوي ادارو په کاري چوکاټ کې جوړيږي.

۴. په خپلو کړنو کې خپلواکه دی.

کـه چيـرى پـه دې تعريـف کـې د کميسـيون صـلاحيتونه او کړنـې تـر بحـث لانـدې ونيـول شـی، پـه روښانه توګه په کی د هغه ځای او وضعيت موندلی شو.

**د قضايي ډوله ادارو ډولونه**

څنګـه چـې مخکـې يادونـه وشـوه، قضـايي ډولـه ادارې پـه يـو هېـواد کـې د شـتو حقـوقي نظـامونو پـه پـام کـې نيولـو سـره تـوپير لـري، خـو پـه ټـوليزه توګـه ويـلای شـو چـې دا ادارې لـه دوو اړخونـو څخـه کيـدلای شـی د ويشـلو وړ وي: يـو د حقـوقی وضـعيت لـه پلـوه او بـل د تشـکيلاتو او صـلاحيتونو لـه پلـوه، چـې هـر يـو يې مختصرا تر کتنې لاندې نيول کيږي.

**الف: په نړۍ کې د قضايي ډوله ارګانونو حقوقی موقعيت (جايګاه)**

پـه نـورو هېوادونـو کـې د قضـايي ډولـه ادارو د شـتونتيا پـه اړه لـه څيړنـو څخـه داسـې څرګنـديږي چـې د حقـوقي موقعيـت لـه پلـوه قضـايي ډولـه ادارې پـه بيلابيلـو بڼـو شـتون لـري، دلتـه يـې پـه لنـډه توګـه د هغـه دوه دود ډولونـه تـر بحـث لانـدې نيسـو: يـو هغـه ادارې چـې بشـپړه (اجرايـي او تشـکيلاتي) خپلـواکي لـري او بل هغه ادارې چې نيمه خپلواکه دي (اجرايي خپلواکي لري، خو تشکيلاتي خپلواکي نه لري)[22].

د لـومړي ډول (هغـه قضـايي ډولـه ادارې چـې بشـپړه خپلـواکي لـري) د وضـاحت پـه برخـه کـې د بيلګـې پـه توګـه د هندوسـتان هېـواد يـادولای شـو؛ پـه دې معنـا چـې د دغـو ادارو جوړېـدل د هغـه هېـواد د اساسـي قـانون د حکمونـو پـر بنسـټ ترسـره شـوي، صـلاحيتونه او دنـدې يـې پـه اساسـي قـانون کـې مشـخص شـوي، قضـا هـم نشـي کـولای چـې پـه هغـو قضـيو کـې مداخلـه وکـړي چـې د کتنـې لپـاره دغـو ادارو تـه سـپارل کيـږي، يـوازې سـتره محکمـه د تـر ټولـو لـوړ قضـايي ارګـان پـه توګـه کـولای شـي چـې د دغـو ادارو

[22] د وخـت لـه پلـوه، قضـايي ډولـه ادارې هـم پـر دايمـي، لنډمهالـه او مـوردي اړخونـو بانـدې ويشـل کېـدای شـي، خـو دا چـې زمـوږ د بحث موضوع نه ده، ترې ډډه کوو.

پریکړې تر بیاکتنې لاندې ونیسي. په بل عبارت ویلای شو چې د هغه هېواد اساسي قانون ځینې قضایي صلاحیتونه (لومړني او استینافي مرحلې) دغو ادارو ته سپارلي، چې د قضایي ډوله ادارو د پریکړې په وړاندې د دواړو خواوو د قناعت نه کېدو په صورت کې پریکړه یوازې په دې مرحله کې سترې محکمې ته د کتنې لپاره راجع کیږي[23]. البته په دی اواخرو کی د هندوستان سترې محکمې د L. Chandra Kumar په وړاندې د هند د اتحادیې په قضیه کې داسې پریکړه وکړه چې په ایالتي اعلی محکمو کې د قضایي ډوله ادارو پریکړو باندې هم د استیناف غوښتنې امکان شته دی.[24]

باید وویل شي چې په هندوستان کې قضایي ډوله ادارې پورتنیو ډولونو ته محدودی نه دي، بلکې نوری قضایي ډوله ادارې هم شته چې په خپلو کړنو کې خپلواکه (او نیمه خپلواکه) دي، خو د دې هېواد په قضایي نظام کې د هغه د رول د کمزورتیا په دلیل تر کتنې لاندې نه نیول کیږي.

خو د قضایي ډوله ادارو دویم ډول چې د امریکې، بریتانیې، کاناډا او استرالیا په شان نورو هېوادونو کې شتون لري، داسې دیوانونه دي چې د څارونکو ادارو په کاری چوکاټ کې تاسیس شوي؛ یعنې اجرایي خپلواکي لري خو تشکیلاتي خپلواکي نه لري، ځکه چې په دې هېوادونو کې د اساسي قانون پر بنسټ قانون جوړوونکي ادارې کولای شي چې تقنیني، اجراییوي او قضایي ډوله صلاحیتونه اجرایي ادارو ته ولېږدوي. له کومه چې د امریکې اساسي قانون د مقننې، قضاییي او اجراییې درې ګونې قوې پر جلاوالي (تفکیک) باندې ټینګار کوي، له همدې کبله ځینو ساینس پوهانو او حقوقي عالمانو اجراییه قوې ته د درې ګونې قواوو (د مقررو وضع کول، تطبیقول او له دغو مقرراتو څخه د رامنځ ته شویو شخړو حلول) سپارل د دغو قواوو د تفکیک فلسفې په خلاف ګڼل او پر هغې باندې معترض ول[25]، چې بالاخره د ۱۹۳۲ کال د فبروری په ۲۳ نیټه باندې د امریکې سترې

---

[23] د هندوستان د اساسي قانون د الف ۳۲۳ مادې د دویمې برخې لومړۍ تر څلورم بند د قضایي ډوله ارګانونو د صلاحیتونو او د هغه د تاسیس په اړه بحث کوي، د دې ترڅنګ د دې مادې ب برخه (جز) د قضایي ډوله ادارو په اړه د مقننه قوې د صلاحیتونو په اړه بحث کوي چې په الف برخه کې بیان شوی نه دي.

[24] د هندوستان سترې محکمې د L. Chandra Kumar vs. Union of India په قضیه کې د قضایي ډوله ادارو پر پریکړو باندې د ایالتي محکمو د استینافي حل لپاره د صلاحیت نه لرل د اساسي قانون د ۲۲۶/۲۲۷ او ۳۲ مادې په خلاف ګڼلی او په دې قضیه کې یې داسې نظر ورکړی چې د قضایي ډوله ادارو د پریکړې په اړه په ایالتي محکمو کې د استیناف غوښتنې امکان شته دی.

http://kpcraoindia.blogspot.com/2012/05/research-paper-on-consitution-and.html

[25] باید وویل شي چې د قواوو د تفکیک فلسفې په پام کې نیولو سره، د قضایي ډوله ادارو جوړول له دې فلسفې سره سمون نه لري. خو د وخت له اړتیاوو سره سم د دغو ادارو په جوړېدو کې له یادې فلسفې څخه یو څه انحراف رامنځ ته شوی دی، د همدې لپاره د ډېرو هېوادونو په قوانینو کې د دغو ادارو جوړېدل دې پورې مشروطه دي چې په محکمو کې د هغې پر پریکړو باندې د استیناف غوښتنې حق خوندي وي، څو د دغو ادارو درې ګونې صلاحیتونه له یو بل څخه تفکیک شي.

محکمې د لومړي ځل لپاره د Crowell v. Benson په قضیه کې دا کړنه مشروع وبلله، خو په دې شرط چې قضا ته د مراجعې حق خوندي وي[26].

د یاد شوي موډل له مخې په زیاترو حقوقي نظامونو کې قضایي ډوله اداري (Administrative Tribunal) د څارونکو ادارو (Administrative Agencies) په کاري چوکاټ کې جوړیږي او کوم وګړي چې د څارونکو ادارو پر کړنو باندې اعتراض کوي، کولای شي دغو ادارو ته مراجعه وکړي. د یادولو وړ ده چې دا اداري په یو وخت کې د مقننه، اجراییه او قضاییه قوې کارونه ترسره کوي، یعنې اړوندو ارګانونو ته له مراجعې پرته مقررې وضع او پلې کوي او د هغوی او مشتریانو ترمنځ د شخړې او لانجې د پیښېدو په صورت کې پخپله د قضیو پر حل اقدام کوي.

**ب: د تشکیل او صلاحیتونو له پلوه د قضایي ډوله ادارو ویش**

قضایي ډوله اداري د تشکیلاتو او صلاحیتونو له پلوه په لاندنیو ډلو ویشل کېدای شي:

۱. **Domestic Tribunals** (داخلي): دا ډول قضایي ډوله اداري داسې ټولګې (صنفونه) رانغاړي چې په یوه اداره کې د بورډ یا کمیټې په بڼه شتون لري او که چیرې د یادې ادارې د پریکړې په پایله کې یو شخص زیانمن شي، کولای شي چې د بیاکتنې لپاره دې ادارې ته مراجعه وکړي. د یادولو وړ ده چې دا له دې سره چې دا ډول په زیاترو مواردو کې اغېزناکې او ګټورې دي، خو په ټولیزه توګه د علماوو تر نیوکو لاندې راغلي دي؛ ځکه چې دا اداري له یوې خوا هیڅ ډول تشکیلاتي خپلواکي نه لري او د هغې ادارې یوه برخه ګڼل کیږي، له بلې خوا په خپلو کړنو او اجرااتو کې خپلواکي نه لري، ځکه چې د هغې ادارې لوړه مقام په کومه کې چې بورډ یا کمیټه جوړ شوي وي، کولای شي چې د هغې بورډ یا کمیټې تصمیم رد کړي.

۲. **Civil Tribunals** (مدني): دا ډول قضایی ډوله اداري هغه کمیابه ډلو کې راځي چې د دوو وګړو ترمنځ شخړې او لانجې حلوي. سره له دې چې دغو ادارو د خلکو لپاره زیاتې اسانتیاوې رامنځ ته کړي دي، خو هغه بنسټیز عنصر چې د شخړو یوه خوا حکومت وي، دلته شتون نه لري، له همدې کبله د زیات بحث وړ نه ګڼل کیږي.

---

that agencies could adjudicate cases as long as provision was made for ultimate judicial review. 285. US. 22 (1932)

۳. Administrative Tribunals (اداري): دا قضایي ډوله اداري په هغو ډلو کې راځي چې که چیرې د دولتي ادارو د پریکړو په پایله کې اشخاص (څه حقیقي وي که حکمي) زیانمن شي، کولای شي چې دغو ادارو ته مراجعه وکړي. په حقیقت کې دا اداري د اداري عدالت حقیقي سیالان (ممثلې یا ورته اداري) دي. په دي معنا چې دا ډول اداري هغه موضوعات هوارووي چې تخنیکي بڼه ولري او قضاء یا د هغه تخصصي پوهه او یا ورته کافي وخت ونه لري او دا ډول شخړې او ستونزې چټک حل او فصل ته اړتیا ولري. د دې ترڅنګ د دغو قضیو حلول ارزان وي او له اندازې زیات لګښتونو ته اړتیا ونه لري. تر ټولو مهم دا چې د قضیې یو طرف دولت وی. له همدې کبله، دا چې د مالي شخړو د حل کمیسیون په دې ډله کې راځي، زمونږ بحث او څېړنه په دې برخې باندې زیات تمرکز کوي.

**په افغانستان کې قضایي ډوله اداري**

که چیرې د افغانستان د حکومت تشکیلاتي جوړښت ته نظر واچول شي، د قضایي ډوله ادارو په جوړولو کې د Administrative Tribunals (اداري دیوانونو) له موډل څخه کار اخیستل شوی دی. له دې سره سم ځینې اداري د څارونکو ادارو په چوکات کې جوړې شوي دي. چې د اشخاصو په منځ کې شخړې حلوي او د دواړو خواوو له خوا د اعتراض د نشتوالي په صورت کې د هغوی پریکړې قضایي فرمان ته ورته د پلې کېدو وړ دي چې په لاندې، د کمیسیون سربېره، د دوو ادارو په اړه بیلګې وړاندې کوو:

**الف: د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په خپلواک کمیسیون کې د شکایتونو د کتنې کمیسیون**

د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د تقاعد حقوقو د تنظیم مقررې د څلور ویشتمې مادې له حکم سره سم، د تقاعد حقوقو د محاسبې او اجرا د څرنګوالي په اړه د متقاعدینو ملکي خدمتونو د کارکوونکو یا د هغې اولادې یا قانوني وکیل یا د هغوی وصي شکایتونو د کتنې لپاره یو کمیسیون رامنځ ته کیږي چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د درو مسلکي کارکوونکو او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون له دوو کارکوونکو څخه جوړیږي. که چیرې پورته یاد شوي زیانمن وګړي د تقاعد حقوقو د محاسبې او ادائینې باندې قناعت ونکړي، کولای شي دغې کمیسیون

ته مراجعه وکړي او د کمیسیون پر پریکړې باندې د قناعت نه ترلاسه کولو په صورت کې بیا کولای شي چې محکمې ته مراجعه وکړي[27].

**ب: د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداري (اترا) د تصمیم نیولو بورډ:**

د مخابراتي خدمتونو د تنظیم قانون له مندرجو حکمونو سره سم، دا بورډ کولای شي چې د مخابراتي شرکتونو او مشتریانو ترمنځ رامنځ ته شوي شخړې او لانجې حل کړي، د مشتریانو د شکایتونو یا د دې بورډ له تخنیکي کتنو سره سم کولای شي چې د تنظیم او څارنې لاندې دا مخابراتي کمپنۍ جریمه کړي یا د قانون د حکم له مخې مجازات کړي. د مخابراتي خدمتونو د تنظیم قانون د لسمې مادې له حکم سره سم، زیانمن شوی شخص کولای شي چې د اترا پر پریکړې باندې د قناعت نه لرلو په صورت کې لومړی د مالي شخړو د حل کمیسیون ته مراجعه وکړي او بیا د کمیسیون پر پریکړې باندې دواړو خواوو د قناعت د نه لرلو په صورت کې موضوع قضایي ارګانونو ته راجع کړي[28].

---

[27] **د تقاعد د حقوقو د تنظیم مقررې څلور ویشتمه ماده:**

(۱) د تقاعد حقوقو د محاسبې او اجرا د څرنګوالي په اړه د ملکي خدمتونو د متقاعدو کارکوونکو، د هغې اولادې یا قانوني وکیل یا وصي د شکایتونو د کتنې په موخه، یو کمیسیون رامنځ ته کیږي چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د درې تنه مسلکي کارکوونکو او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون له دوو تنو څخه جوړیږي.

(۲) د ملکي خدمتونو د متقاعدو کارکوونکو یا د هغې اولادې یا قانوني وکیل یا وصي کولای شي چې د تقاعد حقوقو د محاسبې او اجرا باندې د قناعت نه لرلو په صورت کې د دې مادې له (۱) فقرې سره سم کمیسیون ته شکایت وکړي. د کمیسیون پر پریکړې باندې د قناعت د نه لرلو په صورت کې کولای شي چې محکمې ته مراجعه وکړي.

[28] **د مخابراتي خدمتونو د تنظیم قانون لسمه ماده:**

(۱) دا اداره کولای شي چې د عرضه کوونکو، کاروونکو او د نورو لیوالو خواوو ترمنځ شخړې حل کړي.

(۲) کومې پریکړې چې د دې ادارې له خوا د قانون له حکمونو سره سم نیول کیږي، د پلي کېدو وړ دي.

(۳) کوم شخص چې د دې ادارې د پریکړې له امله زیانمن کېږي، حق لري چې د مالي شخړو په برخه کې له پریکړې څخه وروسته په درو (۳) ورځو کې د افغانستان بانک قانون د مندرج مالي شخړو د حل کمیسیون ته مراجعه وکړي او د حل او فصل غوښتنه وکړي.

(۴) د افغانستان بانک د مالي شخړو د حل کمیسیون له خوا د حل او فصل لپاره غوښتنه باید له پریکړې څخه وروسته په دیرشو (۳۰) ورځو کې ادارې ته ولیږل شي.

(۵) د افغانستان بانک د مالي شخړو د حل کمیسیون کولای شي چې دې کمیسیون ته د موضوع له راجع کېدو څخه وروسته په ۹۰ ورځو کې د ادارې د پریکړې په اړه خپل نظر څرګند کړي.

د پورتنیو موضوعاتو په پام کې نیولو سره، یاد شوي اداري او د مالي شخړو د حل کمیسیون پر زیاترو اوسنیو حقوقي او سیاسي نظامونو کې د تجربو پر بنسټ تاسیس شوي دي چې د قضایي حل او فصل دمخه ورته محول شوی شخړې  په اسانه، روښانه، هدفمنده، تخصصی او ارزانه توګه هواروي او په نافذه قوانینو کې د بیان شوو صلاحیتونو په پام کې نیولو سره په خپلو کړنو او فعالیتونو کې خپلواک دي.

**د قضایي ډوله ادارو اغېزې یا ګټې**

د لمر په نوم یو پخوانی کاناډایي قاضي القضات د قضایي ډوله ادارو د اهمیت په اړه وویل: چې د قضا په پرتله د کاناډا د خلکو پر ژوندانه باندې د قضایي ډوله ادارو اغېزې زیاتې دي. د اوسنیو دولتي نظامونو له ځینې ځخه داسې څرګندیږي چې ښاغلي لمر په دې اړه په بشپړې پوهې او صادقانه توګه وړاندوینه کړې او نظر وړاندې کړی دی. دا ځکه چې په دې برخه کې ځینې ښکاره کوي چې اوسني قضایي نظامونه د اداري دیوانونو له همکارۍ او مرستې پرته نشي کولای چې داسې ګامونه اوچت کړي چې د اوسني پیاوړو قضایي نظامونو لپاره اړین ګڼل کیږی. دا په دې معنا چې نه یوازې محکمې د داسې پیچلو او پراخو سکتوري او تخصصي مسایلو د کتلو لپاره کافي وخت نه لري، بلکې د هغې د کتلو او ځیړلو لپاره کافي پوهه او وړتیا هم نه لري[29]. له دې ځخه څرګندیږي چې د امریکې، کاناډا او داسې نور هېوادونه سره له دې چې پیاوړي قضایي نظامونه لري، خو بیا هم د سکتوري او تخنیکي شخړو د حل لپاره تر زیاته بریده پر اداري دیوانونو باندې اتکا کوي. د دې موضوع د لاروښانتیا لپاره به ښه وي چې د قضایي ډوله ادارو د اړتیا د ځینو مثبتو اغېزو په اړه لنډه توضیح ورکړو:

۱. **ارزان والی:** دا اداري زیاتره وخت د خدماتو د کوم دولتي محصول یا فیس پرته خدمتونه وړاندې کوي.

۲. **د کړنې چټکتیا:** دا چې دا اداري په عامو محکمو کې د اړینو اداري تشریفاتو د رعایتولو مکلفیت نه لري، راجع شوي قضیې په چټکه توګه او په کم وخت کې حلیږي.

۳. **اسانه لاسرسی:** د اداري تشریفاتو نشتوالی، قضایي ډوله ادارو ته د خلکو لاسرسی اسانه کوي.

---

[29] Antonio Lamer, "Administrative Tribunals: Future Prospects and Possibilities (1991) 5 Can. J. of Admin. L. & Prac. 107

**۴. لـه تخنیکـي خنـډونو څخـه خلاصـون:** پـه دې معنـا چـې د شـخړې دواړه خـواوې اړ نـه دي چـې وکیـل ونیسـي، بلکـې کـولای شـي چـې د قضـایي ډولـه ادارو پـه وړانـدې پـه شخصـي توګـه حاضـر شـي او خپلـې سـتونزې هـوارې کـړي. د دې ترڅنـګ د دغـو ادارو کـړنلارې او کړنـې اسـانه او سـاده دي او د هغې پوهېدو لپاره مسلکي پوهې ته اړتیا نشته.

**۵. محرمیـت:** دا چـې زیـاتره وخـت شـخړې شخصـي او انفـرادي دي، لـه همـدې کبلـه د رسـنیو پـه شتون کې د شخړو هوارول اړین نه ګڼل کیږي.

**۶. تخصصـي والـی:** لـه کومـه چې قضـایی ډولـه ادارې د ځـانګړو سـاحو یـا سـکتورونو لپـاره جـوړیږي، له همدې کبلـه د هغې مسـوولین تـر زیاتـه بریـده پـه دغـو سـاحو کې معلومـات لـري او دې تـه اړتیـا نـه لیـدل کیـږي چـې د قضـیو او شـخړو د کتلـو پـه وخـت کـې د کارپوهـانو او متخصصـینو تـه اړ شـي چـې پـه دې کار سره مالي منابع او وخت سپما کیږي.

**۷. سـاده او اسـانه کړنـې:** دا پـه دې معنـا چـې د قضـاء بـرعکس د قضـایي ډولـه ادارو کړنـې او اجـراآت ډېـر اسـانه دي او دواړه خـواوې کـولای شـي چـې د اړتیـا پـه صـورت کـې هـر وخـت لـه دغـو ادارو څخـه مرسـته وغـواړي. د دې ترڅنـګ، قضـایي ډولـه ادارې د شـخړو پـه حـل کـې زیـاتې اسـانتیاوې برابـروي، ځکه چې د قضایي چلند تر اغېزې لاندې نه دي.

**۸. لـه څـارونکو ادارو سـره همکـاري کـول:** قضـایی ډولـه ادارې د ځینـو شـخړو د منلـو او پـه هغـی کـی لـه دخلیـدو سـره لـه څـارونکو ادارو سـره مرسـته کـوي او د هغـوی لپـاره ګټـورې تمـامیږي، ځکـه پـه ځینـو مسـایلو کـې د دې لپـاره چـې د ګټـو د ټکـر موضـوع مطـرح نـه شـي، اداري مسؤول تصـمیم نـه شـي نیـولی، د همدې لپاره زیات شمېر داسې مسایل د دی یوانونو له لارې حلیږي.

**۹. پـه محکمـو کـې د قضـیو لـه راټوکیـدو څخـه مخنیـوی:** قضـایي ډولـه ادارو تـه د شـخړی د دواړو خـواوو د مراجعـې او پـه دې ادارو کـې د قضـیو د چټـک حـل او فصـل پـه پـام کـې نیولـو سـره، پـه محکمـو کې د دغو قضیو حجم راکمیږي او له راټوکېدو څخه یې مخنیوی کوي.

**۱۰. پـه قضـایي حـل کـې د عمـل چټکتیـا:** کـه چیـرې د شـخړې دواړه خـواوې د قضـایي ډولـه ادارو پـر پریکړې باندې قناعـت ونـه کـړي او محکمـو تـه مراجعـه وکـړي، بـې لـه شـکه یـوه بشـپړه چمتـو شـوې دوسـیه محکمـې تـه لېـږل کېـږي او همـدا شـان پـه محکمـو کـې د قضـیو د حـل مراحـل پیـل او د واردو شـوي شـخړو حل اسانه کیږي.

۱۱. **د خلکـو د اعتمـاد راجلبـول:** پـه چټکـه، اسـانه او کـم لګښـته توګـه د خلکـو د سـتونزو لـه حـل سـره پر دولت باندې د خلکو اعتماد زیاتیږي.

د پورتنیـو څرګنـدونو لـه پـه پـام کـې نیولـو سـره کـولای شـو چـې د قضـایي ډولـه ادارو د شـتوالي اغیزنـاکو او مثبتـو ګټـو د ښـې بیلګـې پـه توګـه د بریتانیـا هېـواد یـادولای شـو. سـره لـه دې چـې بریتانیـا د کــامن لا (Common Law) د جوړولــو د بنســټیزې ســرچینې پــه توګــه او پــه نــړۍ کــې د هغــې دودوونکـې پـاتې شـوی، د خپلـو سـکتوري او اختصاصـي شـخړو د حـل لپـاره تـر زیاتـه بریـده پـر قضـایي ډولـه ادارو بانـدې متکـي ده. څیړنـې ښـکاره کـوي چـې د نولسـمې پیـړۍ پـه پیـل کـې پـه دې هېـواد کـې رامـنځ تـه شـوو بـدلونونو د کمیسـیونونو او اختصاصـي اداري محکمـو (قضـایي ډولـه ادارو) د پراختیـا لپـاره لاره هـواره کـړې ده. دا بدلونونـه د بیلابیلـو عواملـو پـه پایلـه کـې رامـنځ تـه شـوي چـې پـه عمـده توګـه پـه سیاسـت، اقتصـاد او ټـولنیزو چـارو کـې پـیښ او د دې لامـل شـوی چـې شـخړې او اداري شـکایتونه زیـات شـي. د دې لپـاره چـې محکمـو نـه شـو کـولای چـې د ټـولنې اړتیـاوو تـه ځـواب ووایـي، د همـدې لپـاره دولـت اړ شـو چـې د شـخړو، دعواګـانو او شـکایتونو د حـل او فصـل لپـاره چـې د نـوي اقتصـادي او ټـولنیزو قوانینو پـه پلـې کولـو سـره یـې امکـان درلـود، یـو شـمېر کمیسـیونونه او اختصاصـي دیوانونـه چـې قضـایي ډولـه صـلاحیت ولـري، جـوړې کـړي. لـه پورتنیـو بـدلونونو وروسـته څیړنـو دا ښـکاره کـړه چـې تـر ۲۰۰۰ زیږدیـز کالـه پـورې نـژدې ۱۳۰ اداري دیوانونـو پـه بېلابېلـو سیمو کـې خدمتونـه وړانـدې کـول. پـه دې معنـا چـې د ژوندانـه پـه هـره سـاحه کـې چـې حکومـت دخیـل و او د حکومـت د پریکـړې پـه پایلـه کـې د خلکـو حقونـه پـه یـو نـه یـو ډول اغیزمنـه کېـدل، یـو اداري دیـوان شـتون درلـود، څـو د خلکـو دعواګـانې تـر کتنـې لانـدې ونیسي او حل یې کړي.[30]

پـه ۲۰۰۰ کـال کـې د یـو څیړونکـي کمیټـې د سپارښـتنو پـر بنسـټ او د Tribunal, courts & Enforcement Act (TCEA 2007) قـانون د تصـویب کېـدو پـه پایلـه کـې د Legal Review of Tribunal پـه نـوم یـو بـل اداري تشـکیل جـوړ شـو او د دې پـه رڼـا کـې ټـول اداري دیوانونـه د متحـده دیوانونـو د سیسـتم پـه نـوم د یـو واحـد چتـر لانـدې راټـول شـول او د کتنـې د دوه ګـونې ارګـان پـه توګـه تنظیـم شـول. پـه دې معنـا چـې لـومړنی دیـوان د لـومړني محکمـې پـه توګـه عمـل کـوي او دویـم دیـوان لـه اسـتینافي صـلاحیتونو سـره لاس پـه کـار کېـږي او کـه چیـرې د شـخړې دواړه خـواوې د اسـتینافي دیـوان پـر

[30] All Answers ltd, “Administrative Tribunal Lecture Notes’ (Law Teacher.net, May 2018)

پریکړې باندې قناعت ونه کړي، کولای شي چې محکمو ته مراجعه وکړي. البته څېړنې ښکاره کوي چې دا سیستم په یو کال کې په ټولیزه توګه نژدې یو میلیون قضیې تر کتنې لاندې نیسي[31].

**لنډه دا چې:** په افغانستان کې د قضایي ډوله ادارې په توګه د مالي شخړو د حل کمیسیون د نړۍ د حقوقي نظامونو د منل شویو تجربو په رڼا کې تاسیس شوي دي. دا کمیسیون د دولت د یوې څارونکي ادارې (د افغانستان بانک) په چوکاټ کې جوړ شوی دی چې د قانون له حکمونو سره سم په چټکه، اسانه او ارزانه توګه د تخنیکي مسایلو په برخه کې د خلکو لپاره عدالت او انصاف تأمینوی.

د نوي اساسي قانون تر پلې کېدو وروسته داسې تمه کېده چې د نورو دولتي ادارو تر څارنې لاندې هم د مالي شخړو د حل کمیسیون ته ورته ادارې جوړې شي، څو په همغه ساحه کې په چټکه توګه مسایل حل او فصل کړي او په چارو کې بندښت راپیښ نشي، خو له څو محدودو ارګانونو پرته دا تمه پرځای نه شوه.

موږ په دې باور یو چې د اغېزناک او هر اړخیز اقتصادي نظام او د هغې د پرمختګ لپاره په ټولو هغو سکتورونو کې چې حکومت څارنه کوي، د قضایي ډوله ارګانونو شتون اړ وی، دا حتمي نه ده چې دا ادارې څنګه او په کوم کیفیت سره فعالیت کوي، بلکې دولت کولای شي چې هر هغه حقوقي جوړښت کې د مالي شخړو د حل کمیسیون په شان د قضایي ډوله ادارو د تاسیس لپاره مناسبه وي، په کار واچوی، څو خلک د دغو ادارو له ګټو څخه برخمن شي او په ټولنه کې د اداري عدالت د فلسفې موخې عملي او یقیني شي.

څنګه چې د افغانستان بانک په کاري چوکاټ کې د مالي شخړو د حل کمیسیون له تاسیس او فعالیتونو څخه نژدې ۱۰ کاله تیریږي، اوس په یقین سره ویلای شو چې دغې کمیسیون د قضایي ډوله ادارې په توګه توانیدلی دی چې د ملموسه او ناملموسه ستونزو او ټولو خنډونو سره سره د نړۍ په حقوقي نظامونو کې د قضایي ډوله ادارو د جوړېدو فلسفې موخې او پایلې ترلاسه کړي او له خدای (ج) څخه استدعا کوو چې د هغه کارکوونکو لپاره لازیاته بریا ور په برخه کړي څو په راتلونکي کې د اداري عدالت د فلسفې د هدفونو او موخو د تحقق لپاره ګټوره او اغېزناک ګامونه اوچت کړي.

31. (Partington, "The Future of Tribunal", Legal Action, May 1993, P9.

## دریمه برخه

## د مالي شخړو د حل کمیسیون کړنې

### ۱- هغه کړنې چې د کمیسیون د تأسیس له نېټې څخه یې تر اوسه پورې ترسره کړې دي[32]

د مالي شخړو د حل کمیسیون د تأسیس له نېټې څخه تر اوسه پورې، الحمد الله د یو قضایي ډوله اداري په توګه خپلې دندې د هېواد د قوانینو او مقرراتو د حکمونو او لارښوونو په رڼا کې په شفافه، روښانه، هدفمنده او هر اړخیزه توګه ترسره کړې دي او هڅه یې کړې ده، څو د شخړو د حل او فصل په پروسه کې د عدالت او شفافیت تر ټولو لوړ معیارونه رعایت کړي.

د دې لپاره چې هېوادوال د کمیسیون له کړنو او اجرااتو څخه معلومات ترلاسه کړي او عامه پوهاوی تحقق ومومي، دلته د خپلو لس کلنو اجرااتو لنډ معلومات هېوادوالو او مینه والو ته وړاندې کوو.

باید ووایم چې د کمیسیون اجراات په ټولیزه توګه په دوو برخو وېشل شوي دي؛ یو هغه دندې دي چې کمیسیون د قانون له مخې د هغه په ترسره کولو اړ شوی دی چې په ځانګړو ساحو کې د شخړو د حل

[32] د مالي شخړو د حل کمیسیون د اجرااتو لنډیز په لاندې جدول کې وړاندې کیږي:

| | |
|---|---|
| د مراجعه کوونکو شمېر | ۵۰۶ غوښتنلیکونه |
| د بیلابېلو قانوني دلیلونو پر بنسټ رد شوې قضیې | ۲۳۳ غوښتنلیکونه |
| هغه قضیې چې په اړه یې پرېکړې شوي دي | ۱۴۳/ تصویبونه |
| هغه قضیې چې په اړه یې کمیسیون نظر ورکړی دی | ۷ مورده |
| هغه قضیې چې د کمیسیون له څېړنې مخکې، اړخونو په هغه مصالحت کړی وي. | ۲۷ مورده |
| د تصفیې په حال کې د کابلبانک د بېلابېلو قضیو په اړه د کمیسیون د شوو تصویبونو له تطبیقولو څخه څارنه | ۹۶ مورده |

او فصل او همدا ډول د تصفیې په حال کې د بانکونو د تصفیې د پروسې څارنه رانغاړي[33]، دویم هغه اجراات دي چې د واک لرونکي مراجعو د غوښتنلیک پر بنسټ په مقطعي ډول کمیسیون د هغه په ترسره کولو اړ شوی وي، خو د اختصار په موخه په دې لیکنه کې یوازې هغه اجراات چې کمیسیون د قانون پر بنسټ د هغه په ترسره کولو مکلف شوي وي، په لنډه توګه بحث کوو.

د مالي شخړو د حل کمیسیون د جوړیدو له نېټې څخه تر اوسه پورې تقریباً شاوخوا (۵۰۶ ) اشخاصو د خپلو شخړو د حل او فصل لپاره دې اداري ته مراجعه کړې ده چې له دې ډلې تقریباً (۲۳۳ ) غوښتنلیکونه له دې امله چې د وخت تر قید لاندې راغلي وي ، یا دا چې څېړنه یې د قانوني واکونو پر بنسټ د کمیسیون دنده نه وي، او یا هم د نه پوهاوي له امله لومړی محکمې ته مراجعه او وروسته بیا کمیسیون ته مراجعه شوي وي، رد شوي دي.

په همدې ترتیب د (۷) قضیو په اړه چې د محکمو او یا نورو ادارو له خوا د نظر غوښتنې په موخه کمیسیون ته لیږل شوې وې، کمیسیون خپل نظر صادر کړی دی.

د مالي شخړو د حل کمیسیون (۱۴۳) نورې قضیې د قانوني مکلفیتونو پر بنسټ په بشپړې څېرتیا تر څېړنې لاندې نیولي او د یو شمېر غونډو له جوړیدو او هر اړخیزو ارزونو وروسته یې د هغه په اړه د قانوني سندونو او مدارکو په رڼا کې خپلې پریکړې او تصویبونه صادر کړي دي چې تر ټولو مهم یې په لاندې ډول دي:[34]

| شمېره | د تصویبونو شمېرې او د هغه د صادریدو نېټې | موضوع | د مدعیانو شهرت | |
|---|---|---|---|---|
| | | | مدعي | مدعي علیه |
| ۱ | ۱– ب۱ ۸۷/۱/۳ | د افغانستان د پرمختیایي بانک د څینو ونډو پلورل | د افغانستان بانک | د افغانستان پرمختیایي بانک |
| ۲ | ۲– م۱ ۸۸/۱/۱۱ | د ۱۴۳۰۰ امریکایي ډالرو په ارزښت نغدي جریمه | د ام تي ان (MTN) مخابراتي شرکت | د اترا اداره |

[33]- د مالي شخړو د حل کمیسیون د بانکدارۍ پخواني قانون له اویایمې مادې، دریمې فقرې سره سم، د (۱۱۹۷) مسلسې ګڼې، د ۱۳۹۴ کال د لړم د ۲۰ نېټې د رسمي جریدې له مخې د افغانستان د پرمختیایي بانک او کابل بانک د دیوالي کیدو د پریکړې د صادریدو ترځنګ، د یادو بانکونو د تصفیې د پروسې څارنه هم کوله او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ریاست د (۵۶) ګڼې، ۱۳۹۴/۵/۲۶ نېټې تقنیني فرمان پر بنسټ د افغانستان د بانکدارۍ د نوي قانون تر توشح کیدو پورې چې د هغه پر بنسټ د بانکونو د تصفیې د څارنې پروسه د افغانستان بانک اداري ته وسپارل شوه، کمیسیون د (۹۶) تصویبونو له تطبیق څخه څارنه کړې او په بېلابېلو پړاوونو کې یې د بانکونو د تصفیې مدیریت ته لازمې لارښوونې صادرې کړې دي.

[34] باید وویل شي چې د مالي شخړو د حل کمیسیون ته راغلي قضیې ډېر تخنیکي او مسلکي اړخ لري، له همدې امله د هغې څېړنې ته ډېر وخت په کار دی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳ | ۳–م۲<br>۸۸/۲/۲ | د پنځوس زره امریکايي ډالرو په ارزښت نغدي جریمه | د روشن مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۴ | ۴– م ۳<br>۸۸/۲/۳ | د پنځوس زره امریکايي ډالرو په ارزښت جریمه | د افغان بیسیم مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۵ | ۵– م ۴<br>۸۸/۷/۳۰ | پنځوس میلیونه افغانۍ جریمه | د روشن مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۶ | ۶– م ۵<br>۸۸/۸/۱۳ | دوه سوه زره افغانۍ نغدي جریمه | د تخار آریا لمټډ شرکت | د اترا اداره |
| ۷ | ۷– ب ۲<br>۸۸/۱۰/۳ | د افغانستان د پرمختیايي بانک د دیوالي کیدو څېړنه(بررسي) | د افغانستان بانک | د افغانستان پرمختیایي بانک |
| ۸ | ۸– ب ۳<br>۸۸/۱۰/۳ | د افغانستان پرمختیایي بانک لپاره د تصفیې د مدیر ټاکل | د تصفیې مدیریت | د افغانستان پرمختیایي بانک |
| ۹ | ۹– م ۶<br>۸۸/۱۲/۲۰ | د یو میلیون او اووه سوه پنځوس زره افغانۍ نغدي جریمه | د افغان بیسیم مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۱۰ | ۱– م ۷<br>۸۸/۱۲/۲۰ | دوه میلیونه او پنځه سوه زره افغانۍ نغدي جریمه | د ام تي ان (MTN) مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۱۱ | ۱۱– م ۸<br>۸۸/۱۲/۲۰ | د ۲۰۰۹ کال د دریمې او څلورمې ربعې له کبله د پنځه میلیونه افغانۍ نغدي جریمه | د ام تي ان (MTN) مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۱۲ | ۱۲– م ۹<br>۸۹/۱/۱۵ | د یو میلیون او اووه سوه پنځوس زره افغانۍ نغدي جریمه | د افغان بیسیم مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۱۳ | ۱۳– ب ۴<br>۸۹/۱۰/۲۲ | د کابل بانک د پوراینو او شتمنیو پلور | د افغانستان بانک | کابل بانک |
| ۱۴ | ۱۴– ب۵<br>۹۰/۱/۲۱ | د کابل بانک د دیوالي کیدو پر وړاندې د اقداماتو پیل | د افغانستان بانک | کابل بانک |
| ۱۵ | ۱۵– ب ۶<br>۹۰/۱/۳۰ | د کابل بانک لپاره د تصفیې د مدیر ټاکل | د افغانستان بانک | کابل بانک |
| ۱۶ | ۱۶– ب ۷<br>۹۰/۱/۳۱ | نوي کابل بانک ته د تصفیې په حال کې د کابل بانک د امانت اېښودونکو د امانتونو، پوراینو او د ځانګړې شویو شتمنیو لیږدول | د افغانستان بانک | کابل کابک |
| ۱۷ | ۱۷– ب ۸<br>۲۷/۲/۹۰ | د کابل بانک د املاکو او ځانګړې شتمنیو د پلور په برخه کې شرایط | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۸ | ۱۸– ب ۹<br>۹۰/۲/۲۷ | د بانک له پوروړو سره د هوکړې لپاره شرطونه | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۹ | ۱۹– ب ۱۰<br>۹۰/۳/۳ | د خلیل الله فیروزي او خلیل زدران تر منځ د یوې حویلۍ د پلور پر سره د مصالحې په اړه | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۲۰ | ۲۰– ب ۱۱<br>۹۰/۴/۱ | د کابل بانک د مطالباتو د ثبت د مودې تمدیدول | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د ګاز ګروپ شرکت |
| ۲۱ | ۲۱– ب ۱۲<br>۹۰/۴/۵ | د ګاز ګروپ شرکت د پورونو تصفیه | د ګاز ګروپ شرکت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۲۲ | ۲۲– ب ۱۳<br>۹۰/۴/۱۳ | د تصفیې د مدیریت وړاندیز شوې بودجه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۲۳ | ۲۳– ب ۱۴<br>۹۰/۵/۴ | د محاکماتي دوران لاندې قضیو په اړه د قضایي اجرااتو بندول | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۲۴ | ۲۴– ب ۱۵<br>۹۰//۵/۹ | د هېواد داخل ته د پامیر د هوایي شرکت د الوتنو د لیږد لګښت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۲۵- ب ۱۶ ۹۰/۵/۱۶ | د نثار احمد یوسفزي استعفاء | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۲۶ | ۲۶- ب ۱۷ ۹۰/۵/۱۸ | د تصفیې د مدیر په توګه د عبدالهادي خلیلزي انتصاب | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۲۷ | ۲۷ ب۱۸ ۹۰/۵/۲۵ | د پامیر هوایي الوتنو د لیږد تړون | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۲۸ | ۲۸- ب۱۹ ۹۰/۵/۲۶ | د دې شرکت د الوتنو د لیږدولو په موخه د پامیر هوایي شرکت د کارکوونکو د معاشونو په اړه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۲۹ | ۲۹- ب۲۰ ۹۰/۵/۲۶ | د افغانستان بانک ته د راټولو شویو دوه ویشت میلیونه امریکایي ډالرو ورکړه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۳۰ | ۳۰- ب ۲۱ ۹۰/۶/۱۳ | د کابل بانک له تصفیې څخه د دوستي ښارګوټي د مشتریانو مطالبه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۳۱ | ۳۱- ب ۲۲ ۹۰/۶/۱۳ | د پامیر د پیښې د شهیدانو ورثه وو ته د شپږ سوه زره امریکایي ډالرو د ورکړې په اړه | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۳۲ | ۳۲- ب۲۳ ۹۰/۷/۳۰ | د پامیر د پیښې د شهیدانو ورثې ته د درې میلیونه امریکایي ډالرو تادیه کول | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۳۳ | ۳۳- ب ۲۴ ۹۰/۸/۳۰ | د پامیر د هوایي شرکت له الوتنو څخه د آریانا شرکت د کارونې بندول | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | کابلبانک |
| ۳۴ | ۳۴- ب ۲۵ ۹۰/۹/۹ | د کوچنیو پورونو د ترلاسه کولو په موخه د کابل بانک د تصفیې د مدیریت وړاندیز شوې طرحه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۳۵ | ۳۵- ب ۲۶ ۹۰/۹/۱۴ | د کابل بانک له شتمنیو څخه د یو هیلیکوپټر پلورل | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۳۶ | ۳۶- ب۲۷ ۹۰/۱۰/۱۴ | په دوبی کې د کابل بانک د جایدادنو د لیږد د لګښتونو منظوري | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۳۷ | ۳۷- ب ۲۸ ۹۰/۱/۲۱ | د کابل بانک د تصفیې د تشکیل او بودجې تصویب | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۳۸ | ۳۸- ب ۲۹ ۹۰/۱۱/۲۲ | د حقوقي سلاکار د ګمارنې په اړه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۳۹ | ۳۹- ب ۳۰ ۹۰/۱۱/۳۰ | په دوبی کې د کابلبانک د شاوخوا ۶ جایدادونو د مالکیت د لیږدولو د فیس د لګښت منظوري | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۴۰ | ۴۰- ب۳۱ ۹۱/۱/۷ | د حیرتانو د نفتي ښارګوټي د تأسیساتو د اجارې په اړه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۴۱ | ۴۱- ب۳۲ ۹۱/۱/۱۷ | د کابلبانک د تصفیې د مدیر په توګه د عبدالحمید محبي انتصابول | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۴۲ | ۴۲-ب۳۳ ۹۱/۱/۱۳ | د کابلبانک د جایدادونو د پلور په پروسه کې ګمارل شوي پلاوي لپاره لازمه لارښوونې | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۴۳ | ۴۳- ب ۳۴ ۹۱/۲/۲۴ | د کابل بانک د ذمت مطالبات | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۴۴ | ۴۴- ب۳۵ ۹۱/۳/۱۳ | د محمود کرزي پوروړتیا(مقروضیت) | محمود کرزی | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۴۵ | ۴۵- ب ۳۶ ۹۱/۳/۱۴ | د کلبهار حبیبي پوروړتیا | ګلبهار حبیبي | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۴۶ | ۴۶- ب ۳۷ ۹۱/۴/۳ | د عبدالغفار داوي پوروړتیا | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۴۷ | ۴۷- ب ۳۸ | د جمهوري ریاست د ۲۸۱ شمېرې حکم پر بنسټ د کابل بانک | د کابل بانک د تصفیې | د کابل بانک د تصفیې |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ۹۱/۴/۴ | د دریو تنو د پوروړتیاوو د کارونې حق | مدیریت | مدیریت |
| ۴۸ | ۴۸- ب۳۹<br>۹۱/۴/۱۳ | د پامیر هوایي شرکت د ۱۲ تنه کارکوونکو د معاشونو په اړه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۴۹ | ۴۹- ب ۴۰<br>۹۱/۴/۲۴ | د ۱۳۹۱ کال د زمري له لومړۍ نېټې څخه د ۱۳۹۱کال تر مرغومې پورې د کابلبانک د تصفیې مدیریت د جوړښت او بودجې تصویب | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۵۰ | ۵۰- ب۴۱<br>۹۱/۴/۲۶ | په دوبۍ کې د ۸۴ -O جایداد پلورل | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۵۱ | ۵۱- ب ۴۲<br>۹۱/۵/۱۴ | د ګاز ګروپ شرکت د ذمت پور اداینه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۵۲ | ۵۲- ب۴۳<br>۹۱/۵/۱۷ | له کابلبانک څخه د پوروړتیا د ردولو په برخه کې د محمد افضل هډه وال غوښتنلیک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | محمد افضل هډه وال |
| ۵۳ | ۵۳- ب۴۴<br>۹۱/۶/۲۰ | د کابلبانک د مسدود شویو نمایندګیو پر سر شخړه | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۵۴ | ۵۴-ب۴۵<br>۸۹۱/۶/۲۷ | د کابل بانک د پوروړي او ونډه لرونکي صوفي نثار احمد پوروړتیا | صوفي نثار احمد | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۵۵ | ۵۵- ب ۴۶<br>۹۱/۷/۱ | د کابل بانک د شتمنیو د ارزښت ټاکنې منظوري | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۵۶ | ۵۶- ب۴۷<br>۹۱/۷/۳ | د افغانستان بانک ریاست ته د پور د مجرائی مطالبه او څرنګوالی | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د افغانستان بانک |
| ۵۷ | ۵۷- ب ۴۸<br>۹۱/۷/۸ | د کابلبانک د یو هیلیکوپټر پلورل | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۵۸ | ۵۸- ب۴۹<br>۹۱/۷/۲۲ | د پامیر هوایي شرکت د ۳ تنه کارکوونکو د معاشونو زیاتوال | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۵۹ | ۵۹ - ب۵۰<br>۹۱/۹/۱۴ | د کابل بانک د پوروړي او ونډه لرونکي محمد طاهر طاهر پوروړتیا | محمد طاهر طاهر | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۶۰ | ۶۰- ب ۵۱<br>۹۱/۹/۱۴ | د حسن نوید لمټډ شرکت د رئیس غلام حسن نوید پوروړتیا | غلام حسن نوید | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۶۱ | ۶۱- ب۵۲<br>۹۱/۹/۱۵ | د حافظ ودانیز او د سرک جوړونې شرکت د ټکټانې معافول | د حافظ ودانیز او د سرک جوړونې شرکت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۶۲ | ۶۲- ب ۵۳<br>۹۱/۹/۲۸ | د کلبهار حبیبي پوروړتیا | کلبهار حبیبي | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۶۳ | ۶۳- ب۵۴<br>۹۱/۱۰/۱۸ | د میرویس عزیزي د پوروړتیا د ټکټانې معافول | میرویس عزیزي | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۶۴ | ۶۴-ب۵۵<br>۹۱/۱۰/۲۴ | د کابلبانک د تصفیې مدیریت د تشکیل او بودجې تصویب | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۶۵ | ۶۵-ب۵۶<br>۸۹۱/۶/۲۷ | د غلام داوود نصیب پوروړتیا | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۶۶ | ۶۶- ب ۵۷<br>۹۱/۱۱/۹ | د کابلبانک د پوروړي او ونډه لرونکي خلیل الله فیروزي پوروړتیا | خلیل الله فیروزي | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۶۷ | ۶۷- ب۵۸<br>۹۱/۱۱/۲۷ | د کابلبانک د تصفیې د مدیریت په وړاندیز شوې بودجه کې تعدیل | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د افغانستان بانک |
| ۶۸ | ۶۸- ب ۵۹<br>۹۱/۱۲/۱۴ | د دوبۍ د L-152 ویلای په کرایه اوسیدونکو لپاره موافقه | په کرایه اوسیدونکو | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۶۹ | ۶۹- ب۶۰<br>۹۲/۷/۲۲ | د شاهین تیلي کام د مخابراتي شرکت د ملکیت د ۷ پایو ټاورونو پلور | د شاهین تیلي کام مخابراتي شرکت | د افغانستان پرمختیایي بانک |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۷۰ | ۷۰ – ب۶۱ ۹۲/۳/۱۱ | د کابل بانک د ونډه لرونکو د پانګې ونډه او د سهامي پانګې تزریق | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۷۱ | ۷۱- ب ۶۲ ۹۲/۵/۱۴ | د کابلبانک د تصفیې د مدیریت د بودجې تشکیل | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۷۲ | ۷۲- ب۶۳ ۹۲/۵/۱۵ | له بریتانیا څخه د پامیر هوایي شرکت د یوې الوتنې د لیږدولو د لګښتونو ورکړه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۷۳ | ۷۳- ب ۶۴ ۹۲/۵/۲۰ | د ګلبهار ټاورز د اپارټمانونو د ۸ تنو مشتریانو غوښتنې (مطالبې) | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۷۴ | ۷۴- ب۶۵ ۹۲/۶/۶ | د مطالباتو د ورکړې په موخه د ۳ میلیونه امریکایي ډالرو منظوري | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۷۵ | ۷۵-ب۶۶ ۹۲/۶/۱۵ | د کابلبانک د تصفیې مدیریت د کارکوونکو د معاشونو د زیاتیدو منظوري | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۷۶ | ۷۶-ب۶۷ ۹۲/۶/۲۷ | له ملي بانک څخه د پنځه اتیا زره آمریکایي ډالرو اختلاس په اړه د مالي شخړو د حل کمیسیون نظر | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۷۷ | ۷۷- ب ۶۸ ۹۲/۷/۷ | د عبدالغفار داوي پوروړتیا | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۷۸ | ۷۸- ب۶۹ ۹۲//۷/۲۰ | د کابلبانک د تصفیې مدیریت کارکوونکو لپاره د اختري ورکولو منظوري | اغلې مروه | افغان ملي بانک |
| ۷۹ | ۷۹- ب ۷۰ ۹۲/۹/۱۷ | د کابل بانک د تصفي په مدیریت کې د یو حسابي او بانکي سلاکار مقرریدل | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۸۰ | ۸۰- ب۷۱ ۹۲/۱۰/۳۰ | د افغان زم زم شرکت د رئیس غلام غوث د پوروړتیا د تحویلی د قسطونو بدلول | د افغانستان د پرمختیایي بانک د تصفیې مدیریت | د افغانستان د پرمختیایي بانک د تصفیې مدیریت |
| ۸۱ | ۸۱ – ب۷۲ ۹۲/۱۰/۳۰ | د افغانستان د پرمختیایي بانک د تصفیې د مدیر په توګه د عبدالغزیز مهجور د تړون تمدیدول | د افغانستان د پرمختیایي بانک د تصفیې مدیریت | د افغانستان د پرمختیایي بانک د تصفیې مدیریت |
| ۸۲ | ۸۲- ب ۷۳ ۹۲/۱۱/۷ | په دوبۍ کې د دولفین او ویفز د ټاورونو د تآمینولو لپاره د افغانستان بانک لخوا د بانکي ضمانت لیک وړاندې کول | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۸۳ | ۸۳- ب۷۴ ۹۲/۱۱/۸ | د دوستي ښارګوټي او ګلبهار حبیبي ټاورز د مشتریانو د مطالباتو د ورکړې منظوري ( دویم لړ لیک) | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۸۴ | ۸۴- ب ۷۵ ۹۲/۱۱/۱۹ | له پخواني کابل بانک څخه د کابل نفت د شرکت پوروړتیا | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۸۵ | ۸۵- ب۷۶ ۹۲/۱۲/۱۲ | د دوه سوه او اویا زره امریکایي ډالرو د حصول په موخه د مجیب الرحمن نومي د مقاوله خط له لاسلیک سره موافقه | د کابل بانک د تصفیې مدیریت | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۸۶ | ۸۶-ب۷۷ ۹۳/۱/۱۹ | د ۱۳۹۳ کال د وري له لومړی نېټې څخه د وږي تر ۲۹ نېټې پورې د کابلبانک د تصفیې د مدیریت تکشیل او بودجه | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۸۷ | ۸۷-ب۷۸ ۹۳/۱/۲۰ | د ګلبهار سنټر د ۹۹ بابه هټیو د سرقلفی د امتیاز پلورل | کابل بانک | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۸۸ | ۸۸- ب ۷۹ ۹۳/۲/۲۱ | د ګلبهار ټاورز د ۱ تن مشتري او د دوستی ښارګوټې د ۳ تنه مشتریانو مطالبه | کابل بانک | څلور تن مشتریان |
| ۸۹ | ۸۹- ب۸۰ ۹۳/۴/۱۰ | د کابل بانک د ۵۰ عراده روسي ماز موټرونو د پلور لپاره د حل د لارې پلټل | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۹۰ | ۹۰- ب ۸۱ ۹۳/۴/۱۴ | د افغانستان د پرمختیایي بانک پر خلاف د محمد باهر کارګر مطالبه | د افغانستان پرمختیایي بانک | محمد باهر |
| ۹۱ | ۹۱- ب۸۲ | د کرول لخوا، د کابلبانک د ارزښت ټاکل شویو شتمنیو پر سره | د کابلبانک د تصفیې | نوی کابل بانک |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ۹۳/۴/۱۵ | شخړه | مدیریت | |
| ۹۲ | ۹۲ – ب۸۳<br>۹۳/۴/۲۲ | د PWC کمپنۍ پر وړاندې د دعوې اقامه | د PWC کمپنۍ | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۹۳ | ۹۳- ب ۸۴<br>۹۳/۴/۲۳ | د کوچني اختر په مناسبت د کابلبانک د تصفیې د مدیریت کارکوونکو لپاره د بخششۍ اجراء کول | کابل بانک | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۹۴ | ۹۴- ب۸۵<br>۹۳/۴/۲۵ | د کابل بانک د پخواني حقوقي سلاکار محمد احرار احرار مطالبه | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۹۵ | ۹۵- ب ۸۶<br>۹۳/۵/۱۳ | د کابلبانک د تصفیې مدیریت د اجراااتو د پلټنې راپور | کابل بانک | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۹۶ | ۹۶- ب۸۷<br>۹۳/۵/۱۴۸ | د اغلي ملالۍ انس پوروړتیا | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۹۷ | ۹۷-ب۸۸<br>۹۳/۵/۱۸ | د مالیې وزارت حساب ته د یو سلو یو میلیونه او څلور سوه او اووه څلوېښت زره او اووه سوه نوي امریکایي ډالرو د ورکړې مطالبه | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۹۸ | ۹۸-ب۸۹<br>۹۳/۶/۵ | د ګلبهار ټاورز د ۳ تنه مشتریانو د مطالبې ورکړه | ګلبهار حبیبي | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۹۹ | ۹۹- ب ۹۰<br>۹۳/۶/۳۰ | د فراغت شرکت لپاره د کابل بانک د ۵۰ عراده روسي ماز موټرونو د پلور منظوري | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۰۰ | ۱۰۰- ب۹۱<br>۹۳/۷/۵ | د انجینر محمد افضل حبیب مطالبه | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۰۱ | ۱۰۱- ب ۹۲<br>۹۳/۸/۱۷ | د ۱۳۹۳ کال د لړم له لومړۍ نېټې څخه د کب تر ۲۹ نېټې پورې د کابلبانک د تصفیې د مدیریت تکشیل او بودجه | کابل بانک | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۰۲ | ۱۰۲- ب۹۳<br>۹۳/۸/۲۰ | د کابل په چهاراسیاب او ده سبز ولسوالیو کې د کابلبانک د کانکس ډوله ۴ کانټینرونو پلورل | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۰۳ | ۱۰۳ – ب۹۴<br>۹۳/۹/۳ | خلیل ځدران ته د کابل په شهر نو کې د کابل بانک د ځمکې پرېښودل | کابل بانک | د کابل بانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۰۴ | ۱۰۴- ب ۹۵<br>۹۳/۹/۱۵ | د دوستی د ښارګوټې د پنځم فاز د ۲ تنه مشتریانو د مطالبې ورکړه | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۰۵ | ۱۰۵- ب۹۶<br>۹۳/۹/۱۶ | د میرزا محمد یارمند پوروړتیا | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۰۶ | ۱۰۶- ب ۹۷<br>۹۳/۹/۱۸ | د کابل بانک د تصفیې مدیریت د انحلال پلان | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د مالیې وزارت او د افغانستان بانک |
| ۱۰۷ | ۱۰۷- ب۹۸<br>۹۳/۱۰/۱ | په دوبۍ کې د کابلبانک د منقولو او غیر منقولو جایدادونو لیږد او استرداد | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۰۸ | ۱۰۸-ب۹۹<br>۹۳/۱۰/۳ | د کابلبانک د تصفیې د مدیریت په وړاندیز شوې تشکیل کې تعدیل | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۰۹ | ۱۰۹-ب۱۰۰<br>۹۳/۱۰/۸ | د آریانا استیل شرکت پوروړتیا | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۱۰ | ۱۱۰- ب ۱۰۱<br>۹۴/۱/۸ | د ګلبهار سنټر د ۳۳ اپارټمانونو د ساتلو او مراقبت د فیس ورکړه | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۱۱ | ۱۱۱- ب ۱۰۲<br>۹۴/۱/۱۹ | د کابلبانک د تصفیې د مدیریت تشکیل او بودجه | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۱۲ | ۱۱۲- ب۱۰۳<br>۹۴/۲/۱ | د کابلبانک د تصفیې د مدیریت د ودانۍ د کرایې او امنیت د لګښتونو وړاندیز | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۱۳ | ۱۱۳- ب ۱۰۴<br>۹۳/۵/۱۳ | د کابل بانک د تصفیې مدیریت لپاره د سرپرست ټاکل | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۱۴ | ۱۱۴- ب۱۰۵<br>۹۳/۵/۱۴۸ | د کابل بانک د تصفیې د مدیریت تنقیض شویو کارکوونکو لپاره د کار موندنې مرسته | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۱۵ | ۱۱۵-ب۱۰۶<br>۹۹۳/۵/۱۸ | د کوچني اختر په مناسبت د کابلبانک د تصفیې د مدیریت کارکوونکو لپاره د بخششي اجراء کول | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۱۶ | ۱۱۶-ب۱۰۷<br>۹۳/۶/۵ | د کابلبانک د تصفیې مدیریت د نوي مدیر انتصاب | کابل بانک | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۱۷ | ۱۱۷- ب ۱۰۸<br>۹۴/۶/۱۱ | د کابل بانک د ودانۍ د مهندسی د پلان د جوړولو او طرحې له کبله د زهرا برشنا شرکت مطالبه | د زهرا برشنا شرکت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۱۸ | ۱۱۸- ب۱۰۹<br>۹۴/۷/۱۹ | د افغانستان د پرمختیایي بانک د تصفیې په مدیریت کې د یو اداري همکار مقرري | د افغانستان د پرمختیایي بانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۱۹ | ۱۱۹- ب ۱۱۰<br>۹۴/۹/۹ | د کابل بانک د تصفیې مدیریت د انحلال د پلان تصویبول | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۲۰ | ۱۲۰- ب۱۱۱<br>۹۵/۱/۱۱ | له مالیې وزارت سره د کابلبانک د تصفیې مدیریت شخړه | وزارت مالیه | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۲۱ | ۱۲۱ – ب۱۱۲<br>۹۵/۱۰/۲۵ | د شفیق الله سلیم پویا، باختر تلویزیون او د کابل بانک د تصفیې مدیریت ترمنځ شخړه | شفیق الله سلیم پویا | د کابلبانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۲۲ | ۱۲۲- ب ۱۱۳<br>۹۵/۱۲/۱۸ | د کمیسیون ح.م.م د ۱۳۹۴ (۱۱۷- ب ۱۰۸) شمېرې تصویب د تطبیق په اړه د زهرا برشنا شرکت مطالبه | کمیسیون ح.م.م | د زهرا برشنا شرکت |
| ۱۲۳ | ۱۲۳- ب۱۱۴<br>۹۶/۱/۲۳ | د خپلو پوروړتیاوو د نه ورکړې لپاره د عبداهادي او فضل هادي د نه حاضریدو پر بنسټ د کوچنیو پورونو د لومړني بانک دعوا. | عبدالهادي او فضل هادي | د کوچنیو پورونو لومړنی بانک |
| ۱۲۴ | ۱۲۴- م ۱۰<br>۹۶/۳/۱۷ | د MTN مخابراتي شرکت پر خلاف د اترا اداري لخوا د یو میلیون افغانی جریمې وضع کول | د MTN مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۱۲۵ | ۱۲۵- ب۱۱۵<br>۹۶/۴/۱۱ | له ګډ حساب څخه د پیو د ویستلو او لیږد پر بنسټ په افغان یونایټډ بانک باندې د محمد نبي دعوه | یونایټډ بانک | محمد نبي |
| ۱۲۶ | ۱۲۶-ب۱۱۶<br>۹۶/۴/۲۷ | د ۱۷۲۲۰۰ ډالره پوروړتیا چې له بانک څخه یې د بانکي تضمین په توګه ترلاسه کړې، د تصفیې لپاره د امید جلالیانو د نه حاضریدو پر بنسټ د باختر بانک دعوه | امید جلالیان | باختر بانک |
| ۱۲۷ | ۱۲۷- م ۱۱<br>۹۶/۵۱۵ | د روشن مخابراتي شرکت پر وړاندې د اترا اداري لخوا د یو میلیون افغانی جریمې وضع کول | د روشن مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۱۲۸ | ۱۲۸- ب ۱۱۷<br>۹۶/۱۰/۳ | د بانکي تضمین لاندې جایداد د پلور پر بنسټ د صلاحیت لرونکو محکمو د حکم له صادریدو وروسته د ټکټانې د چارج کولو لپاره د پیکار بلخ ودانیز شرکت د رئیس هدایت الله نیوکې | غضنفر بانک | د پیکار بلخ ودانیز شرکت رئیس |
| ۱۲۹ | ۱۲۹- ب ۱۱۸<br>۹۶/۱۲/۲۱ | د پوروړتیاوو د نه تصفیې لپاره د الهام احسام لمیټډ سوداګریز شرکت پر خلاف د غضنفر بانک دعوه | غضنفر بانک | د الهام احسام لمیټډ سوداګریز شرکت |
| ۱۳۰ | ۱۳۰- م۱۲<br>۹۶/۱۲/۲۷ | د روشن مخابراتي شرکت پر وړاندې په وضع شویو جریمو نیوکې | د روشن مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۱۳۱ | ۱۳۱- م۱۳<br>۹۶/۱۲/۲۷ | د اتصالاتو مخابراتي شرکت پر وړاندې په وضع شویو جریمو نیوکې | د اتصالاتو مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۱۳۲ | ۱۳۲- م ۱۴<br>۹۶/۱۲/۲۷ | د MTN مخابراتي شرکت پر وړاندې په وضع شویو جریمو نیوکې | د MTN مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۱۳۳ | ۱۳۳- م۱۵<br>۹۶/۱۲/۲۷ | د افغان بیسیم مخابراتي شرکت پر وړاندې په وضع شویو جریمو نیوکې | د افغان بیسیم مخابراتي شرکت | د اترا اداره |
| ۱۳۴ | ۱۳۴-ب۱۱۹ | د پوروړتیا د نه تصفیې لپاره د حاتم نوید لمیټډ د سوداګریز | د حاتم نوید لمیټډ د | غضنفر بانک |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ۹۷/۱/۱۸ | شرکت پر خلاف د غضنفر بانک دعوه | سوداګریز شرکت | |
| ۱۳۵ | ۱۳۵- ب ۱۲۰<br>۹۷/۱/۱۸ | د دولت په حساب کې د مهر او برادران لمیټډ سوداګریز او لوژستیکي شرکت د تړون د حُسن د اجراء د تضمین د پیسو جمع کول | د افغانستان د اسلامي جمهوریت د چارو د اداري د تدارکاتو اداره | د مهر او برادران لمیټډ سوداګریز او لوژستیکي شرکت |
| ۱۳۶ | ۱۳۶- م ۱۶<br>۹۷/۲/۲۲ | د اترا اداري لخوا د نارت تیلیکام مخابراتي شرکت جریمه کیدل | د اترا اداره | د نارت تیلیکام مخابراتي شرکت |
| ۱۳۷ | ۱۳۷- ب ۱۲۱<br>۹۷/۵/۲۴ | د ۳۶۰۰ متر مربع ځمکې پر سر شخړه چې د پنجشیر ولایت د ښاروالي لخوا د وخت په کابل بانک پلورل شوې وه. | د کابلبانک د تصفیې مدیریت | د پنجشیر ولایت ښاروالي |
| ۱۳۸ | ۱۳۸- ب۱۲۲<br>۹۷/۹/۱۵ | د شل میلیونه او اووه سو او اویا زره افغانۍ پور له کبله په پښتني بانک باندې د جاویدان لمیټډ شرکت ادعا | د جاویدان لمیټډ شرکت | پښتني بانک |
| ۱۳۹ | ۱۳۹ – ب۱۲۳<br>۹۷/۹/۶ | د ملي بانک لخوا د کوه البرز ودانیز شرکت د پاتې پوروړتیا پر مطالبې د اتفاق فقیري ودانیز شرکت نیوکه | د اتفاق فقیري ودانیز شرکت | افغان ملي بانک |
| ۱۴۰ | ۱۴۰- م ۱۷<br>۹۷/۹/۲۰ | د مخابراتي خدمتونو د تنظیم د ادرې (اترا) لخوا د شمېرو د فیس د وضع کولو پر سر د مخابراتي شرکتونو نیوکې | د افغان بیسیم، روشن، اتصالات، ام تي ان او افغان تیلیکام مخابراتي شرکتونه | د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره (اترا) |
| ۱۴۱ | ۱۴۱- ب۱۲۴<br>۹۷/۱۱/۱۳ | د تضمین د هغو جایدادونو د خلاصون پر سر شخړه چې (۲۵۰۰۰۰۰) دوه میلیونه او پنځه سوه زره امریکایي ډالرو پور په بدل کې د بیع جایزې په توګه د میوند بانک په واک کې یې ورکړې دي. | د امید ورلډ وایډ ودانیز شرکت | میوند بانک |
| ۱۴۲ | ۱۴۲- ب ۱۲۵<br>۹۷/۱۲/۷ | د افغانستان د سوداګریز بانک د تصفیې مدیریت لخوا د المدینه ګروپ شرکت د مطالبې د نه ثبولو له کبله دعوه | د المدینه ګروپ شرکت | د افغانستان سوداګریز بانک د تصفیې مدیریت |
| ۱۴۳ | ۱۴۳- م ۱۸<br>۹۸/۱/۳ | د یادې اداري له اجازې پرته د (۰۷۳) کریر کوډ د فعالولو پر بنسټ د اترا اداري لخوا د اتصالاتو په مخابراتي شرکت باندې د دوه نیم میلیونه امریکایي ډالرو نغدي جریمې وضع کول | د اتصالاتو مخابراتي شرکت | د اترا اداره |

د لا نور معلومات لپاره د کمیسیون پته، د اړیکې شمېره او ویب پاڼه په لاندې ډول دي:

پته: د دهمزنګ څلور لارې، د پخواني شوروي د علم او کلتور کور شاته، کابل افغانستان

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۵۱۰۶۱۳

ویب پاڼه: www.fdrc.gov.af